ګنونپوهنه

(د اعداد تیوري)

Nummbertheory

$$k = n \pmod m$$

smakhan1946@gmail.com

لیکونکی: جورج کونتبروور

ژباړی: ډاکتر ماخان (میرې) شینواری

دلوي څېښتن په نامه

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زمور د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

کتاب پيژندنه

د کتاب نوم: ګنونپوهنه

ليکونکی: پرفيسور جورج ګوتنبرونر

ژباړی : ډاکتر ماخان،، ميږی،، شينواری

د خپريدو لړۍ .....

خپرندوی: د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ کال ۲۰۱۲

د ژباړي برېښنا پته : smakhan1946@gmail.com

چاپ چارې

چاپ ته يې د هر چمتو هيوادوال مرسته په سترګو منل کيږي

.

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

د ژباړې مننه

نیولیک

د ژباړي سريزه

ګرانو لوستونکو!

د ليکونکي سريزه راوړل شوې هلته اړين څه شته دی، خو زه غواړم دومره يادونه وکړم، چې ګڼونپوهنه يا د اعادو تيوري يو له بنسټيزو درسونو څخه ګڼل کيږي، چې ما يې ډېر وخت د يوې داسې ليکنې لټه کوله. ښه دی، دا مې يو ډېرښه سکرېپټ پيدا کړ او بيا دا د ويانا د پوهنتون هم دی، چې ما هلته درس ويلی. دا په ګوته کوم، چې د ويانا پوهنتون کې ډېر ښه او مشهور ګڼونپوهان تير شوي او لا هم شته.

دا ما له دې امله هم اړيينه وبلله، چې زما په اند دا درس د افغانستان پوهنتونونو کې نه شته. هيله ده، چې دابه د ګرانو هيوادوالوپه ګټه وخوري.

په دې هيله هم،چې ګڼونپوهنه به دپه درسي پروګرام کې خوندي شي.

ستاسو ماخان

سريزه:

په هغه وخت کې ګاوس ګنونپوهنه یا د عددونو تیوري د ماتماتیک د ملکي(پاچاګی) په نوم ونوموله. د دې لپاره چې د شمیرپوهنې په دې ساحې ښه وپوهیږو، مختلفې پیلونې – همداسې مخ ته تللې لکچرونه وړاندې کیږي.

ګنونتیوري د ډېرو داسې ساده برېښیدونکو پرابلمونو، ښوونه او یا د هغوي تضاد تر څیړنې لاندې نیسي، چې تر نن ورځې پورې دا پاتې دي یا نه دي شوی، او د پوره پام کونې له مخې خورا سخت مخ ته لیدل شوي دي. د وخت په تیریدو سره دې د ګنونپوهنې دې خویونو یو د شمیر پوهنې تیوري ودې خورا ستر د تغذیې ورشو ومونډله، چې د خپل دسځیلین دپولې زیاته ور اخواته رسیدونکې ده. په دې اړوند دې دا هم په ګوته شوې وي، چې د ساده پرابلمونو یو ډکی(حجم) شتون لري، د کومې له مخې چې هر څوک په خوښه ازمایلی شي([Guy94] وګورئ).

، د ګنونتیوری یوه غټه معنا ، چې د دې ساحې یا ورشو د یوه قهرمان څخه نږدې ۳۰۰ نا روښانه کلونو وروسته حل شوې: د فرمات Fermat ګومان چې په ښه توګه د ، ،،لوی فرمات Der große Fermat ،،تر نامه لاندې نوم یا شهرت لري.

که څه هم عملي کارونه یا استعمال یې د ۱۹۹۴ د اندریو ا و ریچارد تیلور جملې څخه په سختې لیدل کیږي، بیاهم ګنونپوهنه سیده یا په همدې وخت کې په ماډرن شمیرپوهنه کې غوره رول لري. په دې اړونده سړی فقط د بیلګې په توګه کریپتوګرافي ته خپل پام اړوي، چیرته چې د خبرونو د کود (شفر)څخه وازونه ، د نورو تر څنګ خورا لوي لومړنیو ګنونو ته اړتیا پیښیږي.

په ۶/۳ برخه کې لنډ دې پرابلم ته پام شوی دی، دګنونپوهنې د بنسټیز د استعمالوړوالي دې دلته اانتظار نه کیږي، ځکه چې بنسټیزه تیوري، نه مګر د هغې استعمال د دې سکرېپټ په ککړه کې ځای لري. علاقمند لوستونکی دې په دې هکله نورو د ګنونتیوري زیاتو کتابونو لوستلو ته راوبلل شي. دا مخ ته پرته لیکنه د ویانا پوهنتو کې د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ ژمي سمستر لپاره لکل شوې. بنسټیزې پوهنې یې له وړاندې – یا مخنیونه نه ده، مګر ښه خو ده، چې د الجبري جوړښت او کلیمو سره بلدتیا شتون ولري. لکچر پروفیسر میچ او اړونده تمرینونه یې ډاکتر شویزنګایر مخ ته بیول. دا سکرېپټ د لکچر په لیکنو ولاړ دی او د تکمیل ادعا نه کوي.

جورج ګوتنبرونر اپریل ۲۰۰۲

د $(\mathbb{Z}, +, \cdot, \leq)$ خويونه

د $\mathbb{Z}$ لپاره اکسيومسيستمونه Axiomensystemen

د $(\mathbb{Z}, +, \cdot, \leq)$ لپاره يو ممکنه اکسيوم دی:

لومړی: اکسيوم،، + ،، پوره کوي : $a, b \in \mathbb{Z} \Rightarrow a + b \in \mathbb{Z}$ او :

الف::

$a + (b + c) = (a + b) + c \; \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$ اسوځياتيو قانو

ب-

$\exists\, 0 \in \mathbb{Z}\ (,, Null") : a + 0 = 0 + a = a \; \forall a \in \mathbb{Z}$ (بې اغيزه يا ناپيلی توکی)

پ –

$\forall a \in \mathbb{Z} \exists - a \in \mathbb{Z} : a + (-a) = (-a) + a = 0$ (په څټ يا معکوس توکی)

ت -

$a + b = b + a \; \forall a, b \in \mathbb{Z}$ (کموتاتيو يا د بدلېدو قانون)

دويم : ضرب ،، . ،، پوره کوي $a, b \in \mathbb{Z} \Rightarrow a \cdot b^1 \in \mathbb{Z}$ او:

الف-

$a \cdot (b \cdot c) = (a \cdot b) \cdot c \; \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$ (اسوځياتيو قانون)

ب –

$\exists 1 \in \mathbb{Z}, 1 \neq 0, (, , Eins")$ د $1 \cdot a = a \cdot 1 = a \; \forall a \in \mathbb{Z}$ (بې اغیزه یا ناپیلی توکی)

پ-

$a \cdot b = b \cdot a \; \forall a, b \in \mathbb{Z}$ (کموتاتیو یا د بدلېدو قانون)

ت-

$a \cdot (b + c) = (a \cdot b) + (a \cdot c) \; \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$)دیستریبوتیو قانون)

دریم: نسبت و نظم $\leq$ `` ته باور لري:

الف ـ $a \leq a \; \forall a \in \mathbb{Z}$ رفلکسیویي

ب ـ $a \leq b, b \leq a \Rightarrow a = b \; \forall a, b \in \mathbb{Z}$. انتیسیومتري.

پ ـ $a \leq b, b \leq c \Rightarrow a \leq c \; \forall a, b, c \in \mathbb{Z}$ ترانزیتیو.

ب ـ $\forall a, b \in \mathbb{Z} : a = b \vee a \leq b \vee b \leq a$

ت ـ $a \leq b, c \in \mathbb{Z}$ په خوښه $\Rightarrow a + c \leq b + c \; \forall a, b \in \mathbb{Z}$

ث ـ $a \leq b, c \in \mathbb{Z}, c > 0 \Rightarrow a \cdot c \leq b \cdot c \; \forall a, b \in \mathbb{Z}$

څلوم- برخېږی $\mathbb{N} = \{a \in \mathbb{Z} \mid a > 0\}$ پوره منظمه ده، دا په دې معنا چې د $\mathbb{N}$ هره ناتش برخېږی A کوچنی توکی لري. (نو:

$A \neq \emptyset \Rightarrow \exists \, a_0 \in A : a_0 \leq a, \; \forall a \in A$)

یادونه ۱.۱.۱ د جمعې یا زیاتون د څلور خویونو لپاره $(\mathbb{Z}, +)$ یو ابل ګروپ جوړوي، د ضرب د خویونو سره په ګډه د $(\mathbb{Z}, +, \cdot)$ سره په اړوند د یوه کموتاتیو رینګ څخه غږیږو، د یوې(واحد) توکي سره.

د اکسیومونو $3a-3d$ سره په ګډه $(\mathbb{Z},\leq)$ یو توتالمنظمه ډېرۍ(،،ځنځیر،،) جوړوي.. که ټول اکسیومونه $1-3$ باور ولري، نو دا بی یو منظم رینګ(کړۍ) دی(بېلګه: $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$)

یادونه ۱ . ۱ . ۲ سړی کړی شي وښایي: $(R,\oplus,\odot,\preceq)$ یو په خوښه الجبري جوړښت دی.، هغه چې د ا پورته له ۱ تر ۴ اکسیومونه پوره کوي، نو دا بیا په روښانه توګه [1.1] برابر دی له $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ سره.

تري لاس ته راوړنه: په $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ کې باور لري:

$$a\leq b, c<0 \Rightarrow bc\leq ac. \qquad (1.1)$$

ښوونه:

$$c<0 \overset{3e}{\Rightarrow} c+(-c)<0+(-c)\overset{1b}{=}-c\Rightarrow 0<-c. \qquad (1.2)$$

$$a\leq b \overset{3f}{\Rightarrow} a\cdot(-c)\leq b\cdot(-c)\overset{UE}{\Rightarrow}-(ac)\leq-(bc)\overset{3e}{\Rightarrow} \qquad (1.3)$$

$$\overset{3e}{\Rightarrow} -(ac)+(bc)\leq-(bc)+(bc)=0\overset{3e}{\Rightarrow} \qquad (1.4)$$

$$\overset{3e}{\Rightarrow} (ac)-(ac)+(bc)\leq(ac)+0\Rightarrow \qquad (1.5)$$

$$\Rightarrow bc\leq ac. \qquad (1.6)$$

جمله ګی۱ . ۱ . ۴ له $(\mathbb{Z},+,\cdot,\leq)$ څخه د $\leq$ لپاره باور لري:

$$a \leq b \Leftrightarrow a = b \ \vee \ b = a + n \ (n \in \mathbb{N}). \qquad (1.7)$$

$(\Leftarrow)$ ښوونه:

$$b = a + n, n \in \mathbb{N} \Rightarrow b - a = n \Rightarrow b - a > 0 \Rightarrow b > a \Rightarrow a < b. \qquad (1.8)$$

$(\Rightarrow)$

$$a \leq b \overset{3e}{\Rightarrow} a + (-a) \leq b + (-a) \Rightarrow 0 \leq b - a \qquad (1.9)$$

$$\Rightarrow b - a = 0 \vee b - a > 0 \Rightarrow b = a \vee b - a \in \mathbb{N} \qquad (1.10)$$

$$\Rightarrow n := b - a \Rightarrow b = a + n \quad n \in \mathbb{N}. \qquad (1.11)$$

د سره

لاس ته راوړنه۱ . ۱ . ۵ : $\cdots -2 < -1 < 0 < 1 < 2 < \cdots$

جمله ګی ۱ . ۱ . ۶ : د $\mathbb{N}$ لپاره د اندکشن اصول باور لري، دا په دې معنا چې $\exists\, \emptyset \neq A \subseteq \mathbb{N}$ د لاندې سره:

1. $1 \in A$,
2. $n \in A \Rightarrow n + 1 \in A$,

نو باور لري $A = \mathbb{N}$.

ښوونه:وي دې $\emptyset \neq A \subseteq \mathbb{N}, A$ په خوښهد دواړو خویونو سره ورکړ شوې، ښایو:

$A = \mathbb{N}$ (د $(\mathbb{Z}, +, \cdot, \leq)$ اکسیومونو په مرسته)

نیسو $A \neq \mathbb{N}$. راوړو

$$T := \mathbb{N} \setminus A = \{x \in \mathbb{N} \mid x \notin A\}, \qquad (1.12)$$

له دې امله $T \neq \emptyset$. د اکسیم4 له مخې T یو کوچنی توکی $n_0 \in T$ لري.. دی $n_0 \neq 1$ ، ځکه چې د A خوی1 له مخې:

$$1 \notin T = \mathbb{N} \setminus A. \underset{\Rightarrow}{} 1 \in A, \qquad (1.13)$$

د1.1.4 پسې $n_0 > 1$ لرو ، داسې چې د3e پسې باور لري:

$$n_0 - 1 \in \mathbb{N} \text{ نو } n_0 - 1 > 1 - 1 = 0, \qquad (1.14)$$

(د $\mathbb{N}$ تعریف وګوری) د

$$n_0 - 1 < n_0 \ (n_0 = (n_0 - 1) + 1 \overset{1.1.4}{\Rightarrow} n_0 - 1 < n_0), \qquad (1.15)$$

له امله او داچې $n_0 \in T$ د T کوچنی توکی دی، لرو:

$$n_0 - 1 \notin T. \qquad (1.16)$$

له دې امله $n_0 - 1 \in A$ باور لري (پام: $n_0 - 1 \in \mathbb{N}$). له دې سره د A د 2 خوي له امله ، داسې چې هم $(n_0 - 1) + 1 \in A$ د ی، دا په دې معناچې $n_0 \in A$. تضاد.

جملګی۱ . ۱ . ۷: (د پاتې سره وېش) که $a \in \mathbb{Z}, b \in \mathbb{N}$ وي، نو ګنیونه یا عددونه $q, r \in \mathbb{Z}$ شتون لري د $a = bq + r$ سره د $0 \leq r < b$ سره.
(یواځني ټاکلي)

ښوونه: وي دي

$$M := \{n \in \mathbb{N}_0 \mid n = a - bx \quad x \in \mathbb{Z}\}. \tag{1.17}$$

وښایه: $M \neq \emptyset$

که $a \geq 0$ وي ، نو دی

$$n := a - b \cdot 0 = a \in \mathbb{N}_0, \tag{1.18}$$

پس $n \in M$ ، که $a < 0$ وی ، نو $0 < -a$ او له $a \leq b$ څخه د 3f له مخې لاس ته راځي

$$1 \cdot (-a) \leq b \cdot (-a), \tag{1.19}$$

دا په دې معنا ، چې

$$-a \leq -(ba) \overset{3e}{\Rightarrow} a + (-a) \leq a + (-ba), \tag{1.20}$$

دا په دې معنا، چې $0 \leq a - b \cdot a$ ، له دې سره $a - ba \in \mathbb{N}_0$ او $n = a - ba \in M$ دی(د 3d له مخې بل امکانات نه شته).

د له مخې دا ډېرې یو کوچنی توکی rلري r : ، داپه دې معنا، چې $r \in \mathbb{N}_0$ او

$$r = a - b \cdot x_0 \text{ für ein } x_0 \in \mathbb{Z}; \quad (1.21)$$

له دې سره لاس ته راځي

$$a = b \cdot x_0 + r, \quad (1.22)$$

چیرته چې $0 \leq r$.

نور غواړو وښایو: $r < b$

نیسو $r \geq b$ (3d)، ، د 1.1.4 پسې $x_0 < x_0 + 1$ باور لري، له دې سره $-(x_0 + 1) < -x_0$ ، د $b > 0$ له املې د 3f پسې لرو:

$$-(x_0 + 1)b < -x_0 b \overset{3e}{\Rightarrow} a - (x_0 + 1)b < a - x_0 b = r; \quad (1.23)$$

باور لري

$$a = bx_0 + r \overset{r<b}{\leq} bx_0 + b = b(x_0 + 1), \quad (1.24)$$

نو لاس ته راځي: $a - b(x_0 + 1) \leq 0$ ، له دې سره

$$a - (x_0 + 1)b \in M. \quad (1.25)$$

تضاد، ځکه چې r په M کې کوچنی ګڼ یا عدد دی.

بېلګه 1.1.8 : $a = -42, b = 32$

اجازه نه لري، ځکه چې $r = -10 < 0$ دی. $-42 = 32 \cdot (-1) + (-10)$

د پاتې سره وېشدی، ځکه چې $0 \leq r = 22 < b = 32$ دی. $-42 = 32 \cdot (-2) + 22$

د پښې یادونه:

...غوره [1.1]

سړی هم وایي ،،تر ایزومورفي پورې،، .

د طبیعي ګڼونو یا –اعدادو ځای انځورونه

لکه $273 = 2 \cdot 10^2 + 7 \cdot 10^1 + 3 \cdot 10^0$ ، له دې سره

$$0 \leq 2 < 10, 0 \leq 7 < 10, 0 \leq 3 < 10$$

جملګی1.2.1 : وي دې $a \in \mathbb{N}, b \in \mathbb{N},\ b \geq 2$ ، نو یواځنی ټاکلی ګڼ یا عدد $n \geq 0, a_i \in \mathbb{N}_0$ شتونلری د لاندې سره:

$$a = a_n b^n + a_{n-1} b^{n-1} + \cdots + a_1 b + a_0, \qquad (1.26)$$

د کوم سره چې $a_n > 0,\ 0 \leq a_i < b\ (i = 1, \ldots, n)$

ښوونه:

شتون :

که $a < b$ وي، نو $a = a_0$ ، د کوم سره چې $n = 0, a_0 = a < b$ راکوي.

وي دې $a \geq b$. د وېش له املې د پاتې سره راکوي:

$$a = bq_1 + a_0, 0 \leq a_0 < b, \qquad (1.27)$$

$$q_1 = bq_2 + a_1, 0 \leq a_1 < b, \qquad (1.28)$$

⋮ (1.29)

$$q_i = bq_{i+1} + a_i, 0 \leq a_i < b. \quad (1.30)$$

وښايه : $q_i \geq 0 \ (i = 1, 2, \ldots)$ د پورا ايندکشن له لارې:

: $i = 1$

نيسو $q_1 < 0$ ، نو باور لري

$$a = bq_1 + a_0 < b \cdot 0 + a_0 = a_0 < b, \quad (1.31)$$

- تضاد يا مخامخوالی!

$i \to i + 1$
:

نيسو $q_{i+1} < 0 \Rightarrow q_{i+1} \leq -1$ ، داسې چې

$$q_{i+1} + 1 \leq -1 + 1 = 0, \quad (1.32)$$

نو

$$q_i = bq_{i+1} + a_i < bq_{i+1} + b = b(q_{i+1} + 1) \leq b \cdot 0 = 0 \quad (1.33)$$

- تضاد!

باور لري: $q_i \geq q_{i+1} \ (i = 1, 2, \ldots)$. ځکه چې:

$$q_i = bq_{i+1} + a_i \geq bq_{i+1} \overset{b \geq 2, q_{i+1} \geq 0}{\geq} 2q_{i+1} \geq q_{i+1}. \quad (1.34)$$

له دې سره $q_1 \geq q_2 \geq \cdots$ دی $q_{i+1} > 0$ ، نو $q_i > q_{i+1}$ دی .

د ډېرې یا ست $M := \{q_i \mid q_i > 0\}$ لپاره باور لري، $M \neq \emptyset$ ، نو یو کوچنی توکی $q_n \in M$ شتون لري. پسې لاس ته راځی $q_{n+1} = 0$. له دې سره :

$$q_n = bq_{n+1} + a_n = a_n, \tag{1.35}$$

دابه دې معنا چې $a_n = q_n > 0$ ، د په ځټ اینسوونې له لارې لاس ته راوړو:

$$a = bq_1 + a_0 = b(bq_2 + a_1) + a_0 = q_2b^2 + ba_1b - a_0 = \cdots$$

$$= q_nb^n + a_{n-1}b^{n-1} + \cdots + a_1b + a_0 \ (q_n = a_n > 0).$$

یواځیوالی:

نیسو، چې دوه مختلفې انځورونې شتون لري. وي دې

$$a = a_nb^n + \cdots + a_1b + a_0 = \bar{a}_mb^m + \bar{a}_{m-1}b^{m-1} + \cdots + \bar{a}_1b + \bar{a}_0, \tag{1.36}$$

د $n \geq m,\ a_n > 0,\ 0 \leq a_i < b\ \forall i,\ \bar{a}_m > 0,\ 0 \leq \bar{a}_j < b\ \forall j$ سره .

له دې امله: $a_0 - \bar{a}_0 = bq$ د یوه $q \in \mathbb{Z}$ لپاره ، د $0 \leq \bar{a}_0 < b$ له امله باور لري

$$-b < -\bar{a}_0 \leq 0 \overset{0 \leq a_0 < b}{\Rightarrow} -b < a_0 - \bar{a}_0 < b. \tag{1.37}$$

که $q > 0$ وي، نو $q \geq 1$ دی او د $b > 0 : a_0 - \bar{a}_0 = bq \geq b \cdot 1 = b$ له امله ، تضاد.

که $q < 0$ وي، نو $q \leq -1$ دی او د

$$b > 0 : a_0 - \bar{a}_0 = bq \leq (-1)b = -b$$

له امله تضاد .

نو بايد $q = 0$ باور ولري، له دي سره $a_0 - \bar{a}_0 = b \cdot 0 = 0$ او $a_0 = \bar{a}_0$. له دي امله باور لري:

$$a_n b^n + \cdots + a_1 b = \bar{a}_m b^m + \cdots + \bar{a}_1 b; \qquad (1.38)$$

د b سره لنډوني له لاري لاس ته راځي:

$$a_n b^{n-1} + \cdots + a_2 b + a_1 = \bar{a}_m b^{m-1} + \cdots + \bar{a}_2 b + \bar{a}_1. \quad (1.39)$$

په ورته توګه لاس ته راځي: $a_1 = \bar{a}_1, a_2 = \bar{a}_2, \cdots, a_m = \bar{a}_m$ ، داسي چې په ټوليزه توګه راکوي:

$$a_n b^{n-(m+1)} + \cdots + a_{m+1} = 0 \ (n \geq m) \qquad (1.40)$$

که $n > m$ وی له $a_n > 0, b > 0 \Rightarrow$ سره وی ، نو لاس ته تري راځي: کينه لور له صفر لويه ده، تضاد.

له دي امله بايد $n = m$ باور ولري، او $, a_m = \bar{a}_m. a_0 = \bar{a}_0, a_1 = \bar{a}_1, \ldots$ هم. □

پېژند (تعريف)1.2.2 : پورتنی د $a \in \mathbb{N}$ ټواځنی انځورونه د $b \in \mathbb{N}, \ b \geq 2$ له لاري د a ځای انځورونه بلل کيږي نسبت بنسټ b ته، سومبوليک

$a = (a_n, a_{n-1}, \ldots, a_1, a_0)_b.$	(1.41)

که $b=10$ وي، نو له ديکاديکي *dekadischen* يا لسميزې انځورونې غږيږو، د $b=2$ سره له بينار يا دوه ييزې انځورونې غږيږو. که $b>0$ وي، نو سړی ليکي $A=10, B=11, \ldots$ (د دې لپاره چې له $1\ 0$ څخه يې توپير وکړای شو).

يادونه1.2.3 : د a ځای انځورونه نسبت $b\geq 2$ ته کېدی شي د 1.2.1 د بنوونې په بنسټ و تاکل شي[1.2] .

$$a=q_1b+a_0 \quad 0\leq a_0<b \Rightarrow a_0$$ تاکلی. (1.42)

$$q_1=q_2b+a_1 \quad 0\leq a_1<b \Rightarrow a_1$$ تاکلی. (1.43)

q2=q3b+a2 0≤a2<b =>a2 تاکلی : (1.44)

بېلګه1.2.4 : وي دې $a=731,\ b=10$ ، غوښته: da انځورونه $731:10=73+1$، نو

$$\left.\begin{array}{rcll} 731 & = & 73\cdot 10+1 & 0\leq 1<10 \Rightarrow a_0=1 \\ 73 & = & 7\cdot 10+3 & 0\leq 3<10 \Rightarrow a_1=3 \\ 7 & = & 0\cdot 10+7 & 0\leq 7<10 \Rightarrow a_2=7 \end{array}\right\} \Rightarrow 731=(731)_{10}.$$ (1.45)

بېلګه 1.2.5 : وي دي $a=367, b=2$ ، غوښتنه يا ثبوت: da بينار-يا دوه ييزه انځورونه $367=183\cdot 2+1=\cdots$ سړی داسې ليکي :

367 : 2	183 : 2	91 : 2	45 : 2	22 : 2	11 : 2	5 : 2	2 : 2	1 : 2	0
1	1	1	1	0	1	1	0	1	

$$\Rightarrow 367 = (101101111)_2$$

ازماپښت:

$$1 \cdot 2^0 + 1 \cdot 2^1 + 9 \cdot 2^2 + 1 \cdot 2^3 + 0 \cdot 2^4 + 1 \cdot 2^5 +$$
$$1 \cdot 2^6 + 0 \cdot 2^7 + 1 \cdot 2^8 = 367$$

په $\mathbb{Z}$ کې توټه ونه Teilbarkeit in $\mathbb{Z}$

لاندې برخه(خورا غټ ګډ پروېشونی =ggT)

- پروېشوني او $\mathrm{ggT}(a,b)$ (مقسوم علیه او) یا

د اوکلید له مخې د ggT ټاکنه

د

$a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

خورا غټ ګډ پروېشونی(بزرګترین مقسوم علیه مشترک)

Georg Gutenbrunner 2002-10-04

پر وېشونی او خورا غټ ګډ پروېشونی $\mathrm{ggT}(a,b)$

پېژند(تعریف) 2.1.1 : وي دي $a \in \mathbb{Z}$ ، سږی وایي $b \in \mathbb{Z}$ a وېشي، که د یوه $q \in \mathbb{Z}$ لپاره باور ولري $a = b \cdot q$.

سومبولیک : $b \mid a$، b د a پروپشوني بلل کیږي، q د b پوره کېدونکي یا کمپلمنتار پروپېنوني بلل کیږي. که b د a پروپشوني (مقسوم علیه) نه وي، نو لیکو $b \nmid a$.

د1 پروپشوني د $\mathbb{Z}$ یوونونه یا واحدونه بلکیږي(دا فقط $\{1,-1\}$ دي).

یادونه 2.1.2 : هر ګڼ یا عدد $a \in \mathbb{Z}$ پروپشوني $1,-1,a,-a$ لري، داسي په نامه ساده(نا اصلي) پروپشوني. که نور پروپشوني شتون ولري، نو دا اصلي پروپشوني بلل کیږي.

لېما جمله ګوتې 2.1.3:

1. $b \mid a \Rightarrow b \cdot c \mid a \cdot c \; \forall c \in \mathbb{Z}$.
2. $bc \mid ac, c \neq 0 \Rightarrow b \mid a$.
3. $a \mid b, b \mid c \Rightarrow a \mid c$.
4. $a \mid b, b \neq 0 \Rightarrow |a| \leq |b|$.
5. $a \mid b, b \mid a \Rightarrow a = \pm b$ $|a| = |b|$ (also)(نو .)
6. که $a_1, \ldots, a_n, b \in \mathbb{Z}$ وي، د $b \mid a_1, \ldots, b \mid a_n$ سره، نو باور لري $\forall c_1, \ldots, c_n \in \mathbb{Z}$:

$$b \left| \sum_{i=1}^{n} c_i a_i \right. . \qquad (2.1)$$

ښونه:

ad 4

د $a \mid b = a \cdot q$ لپاره $= |a| \cdot |q|, q \neq 0\, q \in \mathbb{Z} \Rightarrow |b|$ پرته له دي $b = 0$,

نو $|q| \geq 1$ او $|a| \; |b| = |a| \cdot |q| \geq |a|$ (هم > 0 پرته له دي $b = 0$).

ad 5

$$a \mid b \Rightarrow b = aq, b \mid a \Rightarrow a = br$$
$$\Rightarrow \text{Ist } a = 0,$$

نو له دي $b = 0$ لاس ته راځي. که $b = 0$ وي، نو $a = 0$ هم . که a او b د صفر سره برابر نه وي:

$|a| \leq |b|$ او $|b| \leq |a|$ ، له دي سره $|a| = |b|$ دی، داپه دي معناچې $a = \pm b$ دی .

ad 6

$$a_1 = bq_1, \ldots, a_n = bq_n \; (q_i \in \mathbb{Z})$$

$$\Rightarrow \sum_{i=1}^{n} a_i c_i = \sum_{i=1}^{n} (bq_i) c_i = b \underbrace{\sum_{i=1}^{n} q_i c_i}_{\in \mathbb{Z}} \Rightarrow b \Big| \sum_{i=1}^{n} a_i c_i \; \forall c_i \in \mathbb{Z}. \quad (2.2)$$

لاس ته راوړنه2.1.4 : هر $a \in \mathbb{Z}, a \neq 0$ ، پای دپرې پروېشوني b لري، ځکه چې د(4) 2.1.3 پسې باور لري: $|b| \leq |a|$ ، نو $-|a| \leq b \leq |a|$ ، له دي امله

$$b \in \{-|a|, -|a|+1, \ldots, |a|-1, |a|\}, \tag{2.3}$$

دا فقط پای ډپر دي.

مګر : $a = 0$ ټول ګنونه یا ټولعددونه د پروېشونو په څېر لري: $0 = b \cdot 0 \ \forall b \in \mathbb{Z}$
، دا په دې معنا چې a ناپای ډپر پروېشوني لري.

پسې راتلنه یا لاس ته راوړنه 2.1.5 : د $(\Rightarrow a \neq 0)\ a \in \mathbb{N}$ د زیاتیزو یا مثبتو پروېشونو د ټاکلو له امله کېدی شي سړی ځان په هغه د $1 \leq b \leq \sqrt{a}$ سره رابند یا محدود کړي.

ځکه چې : که q د $a \neq 0$ یو پروېشونی وي د $q > \sqrt{a}$ سره او $a = qr\ (r \in \mathbb{Z})$ وي، نو دی $r < \sqrt{a}$ ، ځکه چې :

$$r \geq \sqrt{a} \Rightarrow a = qr \geq q\sqrt{a} > \sqrt{a}\sqrt{a} = a \tag{2.4}$$

- تضاد! له دې سره r پوره کېدونکې پروېشوني ده د $r \leq \sqrt{a}$ سره.

بېلګه 2.1.6 : $a = 80$ ، ټول پروېشوني غوښتونوي دي. د $\sqrt{80} < 9$ له امله ټول زیاتیز یا مثبت پروېشوني b دي د $1 \leq b \leq \sqrt{80} < 9$ سره وټاکل شي:

$$1, 2, 4, 5, 8; 80, 40, 20, 16, 10. \tag{2.5}$$

له دې سره ټول پروېشوني دي:

$$\pm 40, \pm 80\ \pm 1, \pm 2, \pm 4, \pm 5, \pm 8, \pm 10, \pm 16, \pm 20,$$

پېژند(تعريف) 2.1.7: وي دي $a,b \in \mathbb{Z}$ ، نو $c \in \mathbb{Z}$ د a,b ګډ پروېښونی بلل کيږي، که $c \mid a$ او $c \mid b$ وي .

ياودونه2.1.8 : که $a \in \mathbb{Z}, a \neq 0$ وي، نو a د 2.1.4 پسې يا له مخې فقط پای ډېر پروېشوني لري. که $b \in \mathbb{Z}$ په خوښه وي، نو a او b فقط پای ډېر پروېشوني لري. د اکسيوم 3d له مخې $\mathbb{Z}$ توتالي (ټول يا بېخي) منظم دی، يعنې د a,b ګډ پروېشونی يو خورا لوي توکی دی. نو سړی کړی شي تعريف کړي:

پېژند يا تعيف2.1.9 : (خورا غټ ګډ پروېشونی يا بزرګترين مقسوم عليه Greatest comon divisor) وي دي $a,b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو $\mathrm{ggT}(a,b)$ (انګرېزي يې gcd(a,b)) د ټولو ګډ پروېشونو خورا لوی(يعنې تر ټولو لوي) دی . دا يواځنی ټاکلی دی. دی، که $\mathrm{ggT}(a,b)=1$ وي، نو a,b نسبي لومړني يا پريم بلل کيږي يا پروېش پردې(ګډ اصلي پروېشونی نه لري).

يادونه 2.1.10 : که $a,b \in \mathbb{Z}$ دواړه صفر نه وي. نو کېدی شي سړی د $\mathrm{ggT}(a,b)$ ټاکلو لپاره په زياتيزو يا مثبتو ګډو پروېشونو ځنونه محدود کړي، ځکه چې 1 يو ګډ پروېشونی دی، يعنې باور لري:

$$\mathrm{ggT}(a,b) \geq 1$$

بېلګه2.1.11 : $a=12, b=-8$

$a: 1,2,3,4,6,12;\ b: 1,2,4,8$ د زياتيز پروېښنوني له دې لاس ته راځي ګډ مثبت پروېشوني دي:

$$1,2,4 \Rightarrow \mathrm{ggT}(a,b) = \mathrm{ggT}(12,-8) = 4$$

د اويکليد يا اقليدس له مخې د ggT ټاکنه

جمله 2.2.1 : د اويکليد الګوريتم (Euklidische Algorithmus[1, 2]) وي دي $a, b \in \mathbb{N}$ او بې له تولیزو بندیزونو $b \leq a$. که $b \mid a$ وي، نو ږدو $r_0 = b$ ، که $b \nmid a$ باور لري، ځکه چې که د وېش له لارې د پاتې سره $q_i, r_i \in \mathbb{Z}$ سړی په لاندې توګه ټاکي:

$$
\begin{aligned}
a &= q_0 b + r_1, && 0 \leq r_1 < b \\
b &= q_1 r_1 + r_2, && 0 \leq r_2 < r_1 \\
r_1 &= q_2 r_2 + r_3, && 0 \leq r_3 < r_2 \\
&\vdots \\
r_{m-1} &= q_m r_m + r_{m+1}, && 0 \leq r_{m+1} < r_m \\
&\vdots
\end{aligned}
$$

نو کوچنی $n \in \mathbb{N}_0$ شتون لري د $r_{n+1} = 0, r_n \neq 0$ سره او $r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$ باور لري .

ښوونه : که $b \mid a$ وي، نو باور لري

$$r_0 = b = \mathrm{ggT}(a, b), r_1 = r_{0+1} = 0 \qquad (2.6)$$

د $a = b \cdot q_0 + r_1$ لپاره.

وي دي $b \nmid a$ ، نو $a = q_0 b + r_1, 0 \leq r_1 < b$ باور لري د $r_1 \neq 0$ سره. د جوړښت له مخي باور لري

$$r_1 > r_2 > \cdots > r_i > r_{i+1} > \cdots . \qquad (2.7)$$

وي دي $M := \{r_i \mid r_i > 0\}$ ، نو $M \neq \emptyset$ دی، ځکه چې $r_1 \neq 0$ ، له دي سره $r_1 \in M$. د پوره نظم اصولو له مخي (Axiom 4) په M کې يو کوچنی توکی شتون لري: r_n. نو باور لري:

$$r_n > 0 \ (r_n \in M) \quad \text{und} \quad r_{n+1} = 0 \ (0 \leq r_{n+1} < r_n). \qquad (2.8)$$

وښايی : $r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$

- $r_n \mid a, b$:اخرنی مساوات یا برابرون دی

$r_{n-1} = q_n r_n (+ r_{n+1}),$	(2.9)

نو $r_n \mid r_{n-1}$. له اخر د مخه مساوات دي:

$r_{n-2} = q_{n-1} r_{n-1} + r_n,$	(2.10)

نو $r_n \mid r_{n-1}, r_{n-2}$

- که په ورته توګه مخ ته لاړ شو، نو تري لاس ته راځي $r_n \mid r_2, r_n \mid r_1, r_n \mid b$ او له دې امله

$r_n \mid q_0 b + r_1 = a \Rightarrow r_n \mid a, b.$	(2.11)

$$r_n = \mathrm{ggT}(a, b)$$

t دې په خوښه یو د a, b مثبت پروښونی وي. نو د لومړي مساوات څخه لرو :

$r_1 = a - q_0 b \overset{2.1.3(6)}{\Rightarrow} t \mid r_1;$	(2.12)

له 2 مساوات :

$r_2 = b - r_1 q_1 \Rightarrow t \mid r_2,$	(2.13)

او همداسي پسي، تر

$$t \mid r_{n-1}, t \mid r_n \overset{2.1.3(4)}{\Rightarrow} |t| \leq |r_n|. \qquad (2.14)$$

t مثبت، $\Rightarrow t \leq r_n \Rightarrow r_n$ مثبت له دې لاس ته راځي $\mathrm{ggT}(a, b)$. غټ ګډ پروښونی دی.

یادونه 2.2.2 : که د اعدادو یو (یا دواړه) $a, b \in \mathbb{Z}$ د صفر کوچني وي، نو د اوکلید الګوریتم دې په $|a|$ همداسي په $|b|$ باندې وکارول شي، ځکه چې

مور د a, b د مثبت پروښونو پیداکېدل غواړو (پام $\mathrm{ggT}(a, b) \geq 1$).

بېلګه2.2.3 : $a = 97, b = -44$ ، نو باور لري : $|b| = 44 \leq 97 = a$ ، نو لاس ته راځي:

$$97 = 44 \cdot 2 + 9 \quad 0 \leq 9 < 44$$

$$44 = 9 \cdot 4 + 8 \quad 0 \leq 8 < 9$$

$$9 = 8 \cdot 1 + 1 \quad 0 \leq 1 < 8$$

$$8 = 1 \cdot 8 \qquad \Rightarrow \mathrm{ggT}(97, -44) = 1$$

پېژند یا تعریف2.2.4 : (کرښیز کمپرزېشن یا – یوځای ایښوونه) : وي دې $a, b \in \mathbb{Z}$ ، نو یو $c \in \mathbb{Z}$ د a, b کرښیز کمپوزېشن بلل کیږي، که $c = xa + yb$ وي د ځانګړو $x, y \in \mathbb{Z}$ سره.

که c, d د $a, b \in \mathbb{Z}$ کرښیز ښیز کمپوزېشنونه وی، په دې پسې $\alpha c + \beta d$، $\forall \alpha, \beta \in \mathbb{Z}$.

هم کرښیز کمپوزېشن دی..

جمله 2.2.5 : (اوکلید) که وي $a, b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو $\mathrm{ggT}(a, b)$ د a, b : $\mathrm{ggT}(a, b) = xa + yb$ یو کرښیز کمپوزېشن دی، د ټاکلو $x, y \in \mathbb{Z}$ لپاره.

ښوونه:

لومړی $b > 0$: نو $0 < b \leq a$ ، یعني $a, b \in \mathbb{N}$ ، داسې چې د اوکلید الګوریتم 2.2.1 سره باور لري:

(2.15)	$\text{ggT}(a,b) = r_n, r_{n+1} = 0, r_0 = b \quad b \mid a.$;

دویم . له دې سره باور لري

$$r_{n-2} = q_{n-1}r_{n-1} + r_n, \ldots, a = q_0 b + r_1$$

داپه دې معنا چې r_1 د a,b کمپوزېشن دی	$r_1 = a - q_0 b,$ نو
داپه دې معنا چې r_2 د a,b کمپوزېشن دی	$\Rightarrow r_2 = b - q_1 r_1,$
داپه دې معنا چې r_n د a,b کمپوزېشن دی	$\cdots \Rightarrow \underbrace{r_n}_{\text{ggT}(a,b)} = r_{n-2} - q_{n-1}r_{n-1},$

$$\Rightarrow \text{ggT}(a,b) = xa + yb$$

.1

د ټاکلو یا معلومو $x, y \in \mathbb{Z}$ لپاره .

$$d = \text{ggT}(a,b) = a = 1 \cdot a + 0 \cdot b$$

.2 $b = 0$:

.3 $b < 0$ $-b > 0$ دی او له ۱ . حالته باو لري : نو

$$\text{ggT}(a,b) = x \cdot a + y \cdot (-b)$$

(که غوښتوني وي a له $-b$ سره بدله کړی، که $a < -b$ باور ولري) . که $r_0 = b$ وي، نو $b \mid a$ او $\mathrm{ggT}(a,b) = 0 \cdot a + 1 \cdot b.$ باور لري.

□

یادونه 2.2.6 : ښوونه ښرته جوړختیزه ده، دا یو متود راکوي د $x, y \in \mathbb{Z}$ تاکلو لپاره په $\mathrm{ggT}(a,b) = xa + yb$ کې، داسې چې د اوکلید الګوریم څخه پاتې افاده کوو یا وایو له مخ ته تیرو د کرښیز کمپوزیشن لویو څخه او په لاندې راتلونکي مساوات کې یې ځایه ځایو کوو.

بېلګه 2.2.7 : $a = 111, b = 39$ ، نو دی $b = 39 \leq 111 = a$ ، داسې چې د2.2.1 سره باور لري:

$$111 = 2 \cdot 39 + 33 \quad 3 = 33 - 5 \cdot 6$$

$$39 = 1 \cdot 33 + 6 \quad = 33 - 5(39 - 33) = 6 \cdot 33 - 5 \cdot 39$$

$$33 = 5 \cdot 6 + 3 \quad = 6(111 - 2 \cdot 39) - 5 \cdot 39$$

$$6 = 2 \cdot 3. \quad = 6 \cdot 111 - 17 \cdot 39$$

.

بېلګه 2.2.8 : د $\mathrm{ggT}(a,b)$ د تاکلو لپاره ، که a او b د یوې اووښتوني یا متحولې په واک کې وي یا تابع وي.

غواړو پیدا کړو:

$$d := \mathrm{ggT}(2k-1, 9k+4) \ (k \in \mathbb{Z}).$$

د $d \mid 2k-1, d \mid 9k+4$ له امله ، په ځانګړي توګه باور لري:

$$b \mid 9(2k-1) + (-2)(9k+1) = -17. \quad (2.16)$$

(x, y داسي ټاکل سوي دي، چې له هغې سره اووښتوني يا متحوله لرې کيږي، دا زيات وخت ممکن دی، ځکه چې $d = xa + yb$ د $\forall x, y \in \mathbb{Z}$).

له دې سره باور لري: $d = 1$ يا $d = 17 \ (d > 0)$. د کوم $k \in \mathbb{Z}$ لپاره $d = 17$ دی؟

که $d = 17$ وي ، نو دا په دې معنا چې $17 \mid 2k-1, 17 \mid 9k+4$ ، يعنې $2k - 1 = 17 \cdot t$ د $t \in \mathbb{Z}$ يوه لپاره، له دې امله $k = \frac{1}{2}(17t+1)$.

له دې امله بايد t ناجوړه يا طاق وي(پرته له دې $k \in \mathbb{Z}$ دی)، يعنې $t = 2n-1, n \in \mathbb{Z}$. له دې نمله :

$$k = \frac{1}{2}(17(2n-1)+1) = \frac{1}{2}(34n-16) = 17n-8. \quad (2.17)$$

برعکس يا په څټ: که د يوه $n \in \mathbb{Z}$ لپاره $k = 17n - 8$ وي، نو بلاور لري:

$$2k - 1 = 34n - 16 - 1 = 34n - 17 = 17(2n-1)$$

دا په دې معنا چې $17 \mid 2k-1$.

$$9k + 4 = 9 \cdot 17n + 4 - 72 = 17(9n-4)$$

دا په دې معناچې $17 \mid 9k+4$.

له دې امله باور لري: $d=17 \Leftrightarrow k=17n-8, n \in \mathbb{Z}$ په خوښه، $d=1$ پرته له دې له 2.2.5 څخه لاس ته راوړني.

کورولار یا جملګی2.2.9 : وي دې $a,b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو باور لري:

1. $d=\mathrm{ggT}(a,b) \Rightarrow \mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d})=1$
2. $t \mid a, t \mid b$ د $\mathrm{ggT}(\frac{a}{t},\frac{b}{t})=1$ سره ، نو دی $\mathrm{ggT}(a,b)=|t|$.
3. $m \in \mathbb{Z}, n \neq 0$ ، نو $\mathrm{ggT}(a \cdot m, b \cdot m)=|m| \cdot \mathrm{ggT}(a,b)$

ثبوونه: ad 1:

د2.2.5 له مخې باور لري: $d=xa+yb$ د ټاکلو $x,y \in \mathbb{Z}$ لپاره، يعني $d \cdot 1 = d(x\frac{a}{d}+y\frac{b}{d})$ ، داسې چې باور لري ($d \neq 0$) $1=x\frac{a}{d}+y\frac{b}{d}$.

وي دې $t \geq 1$ په خوښه د $t \mid \frac{a}{d}, t \mid \frac{b}{d}$ سره، نو د 2.1.3(6) له مخې: $t \mid 1$ ، دا په دې معنا چې $|t| \leq 1$ ، يعني $t \leq 1$ ، له دې سره $t=1$. نو $\mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d})=1$.

ad 2:

له $\mathrm{ggT}(\frac{a}{t},\frac{b}{t})=1$ د2.2.5 سره د معلومو $\alpha,\beta \in \mathbb{Z}$ لپاره راکوي $1=\alpha\frac{a}{t}+\beta\frac{b}{t}$ ، يعني $t=\alpha a+\beta b$. د وړاندنيونو(فرضيو) وروسته $|t|$ د a,b يو ګډ پروېښونی دی. وي دې $s \geq 1, s \mid a, s \mid b$ په خوښه، نو د 2.1.3 له مخې $s \mid t$ بارورلري، داسې چې $|s| \leq |t|$ دی، دا په دې معنا چې $s \leq |t|$. يعني $\mathrm{ggT}(a,b)=|t|$ دی.

ad 3:

د 1 له مخي د $d = \mathrm{ggT}(a,b)$ لپاره باور لري، چې $\mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d}) = 1$ ، د $d \mid a,b$ له املې د 2.1.3 پسې لاس ته راځي $md \mid ma,mb$ ، له دې سره لاس ته راځي $\mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d}) = \mathrm{ggT}(\frac{ma}{md},\frac{mb}{md}) = 1$ ، د 2 پسې لاس ته راځي

$$|md| = \mathrm{ggT}(ma,mb)$$

داپه دې معنا چې $|m| \cdot d = |m|\,\mathrm{ggT}(a,b) = \mathrm{ggT}(ma,mb).$.

یادونه 2.2.10 : که $\frac{a}{b} \in \mathbb{Q}$ وي(ریښتوني یا راشنل)، نو د تولو : $d = \mathrm{ggT}(a,b)$ لپاره $\frac{\frac{a}{d}}{\frac{b}{d}} = \frac{a}{b}$ باور لري. د 2.2.9(1) له مخي باور لري: $\mathrm{ggT}(\frac{a}{d},\frac{b}{d}) = 1$ ، دا په دې معنا چې $\frac{1}{b}$ کېدی شي په $\frac{c}{d}$ بڼه د $\mathrm{ggT}(c,d) = 1$ سره ولیکل شي (c,d حتی یواځني ټاکلي دي).

Korollar (جمله، چې د ښوول شوې جملې څخه لاس ته راځي کورولار بلل کیږي) :2.2.11

وي دي $a,b \in \mathbb{Z}$ ، نه دواړه صفر، نو باور لري: $d \in \mathbb{N}$ ګڼ یا عدد ټیک هلته خرا غټ پروېشونی(لنډ:خ غ پ ggT = gcm) $\mathrm{ggT}(a,b)$ دی، که

(1) $d \mid a, d \mid b$.

(2) $c \mid a, c \mid b$ (په خوښه $c \in \mathbb{Z}$) له دې لاس ته راځي $c \in \mathbb{Z}$.c|d.

ښوونه:

$(\Rightarrow)$

دی $d = \text{ggT}(a,b)$ ، نو باور $d \mid a, d \mid b$ لري، دا په دې معنا چې (1) باور لري، وي دې c د a,b په خوښه پروپشونی، نو له $d = xa + yb \ (x,y \in \mathbb{Z}$ لاس ته راځي (جمله 2.2.5دې وکتل شي)، چې $c \mid d$ دی(2.1.3) ، دا په دې معناچې(2) باور لري.

$(\Leftarrow)$

د (1) له مخې d د a,b ګډ پروپشونی دی. وي دې $c \in \mathbb{Z}, c \geq 1$ په خوښه د a,b پروپشونی، نو د (2) له مخې لاس ته راځي $c \mid d$ ، دا په دې معنا چې د2.1.3 پسې $|c| \leq |d|$ دی ، له دې سره $c \leq d$. يعنې d د a,b خورا غټ ګډ پروپشونی(بزرګترین مقسوم علیه مشترک؟) دی

□

جمله2.2.12 : (بنسټیزه lemma (مرستندوی جمله چې د ښوونې یا ثبوت په جریان کې په کار راځي)) وي دې $a,b,c \in \mathbb{Z}, a \neq 0, \text{ggT}(a,b) = 1$ ، نو د $a \mid b \cdot c$ له مخې لاس ته راځي ،چې $a \mid c$ دی.

ښوونه : له $\text{ggT}(a,b) = 1$ لاس ته راځي

(2.18)	$1 = xa + yb$

د څه یا ټاکلو $x, y \in \mathbb{Z}$ لپاره. له دې املې لاس ته راځي

$$c = xca + ybc. \qquad (2.19)$$

دا چې د وړاندنیونې $a \mid bc, a \mid a$ څخه باور لري $\overset{2.1.3}{\Rightarrow} a \mid c.$ □

دپښې یادون: اوکلید د200-365 ز ک څخه له مخه.

د $a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

خورا غټ ګډ پروېشونی $a_1, a_2 \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$

پېژند یا تعریف :

لومړی : $a_1, \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$ دې وي، نو $b \in \mathbb{Z}$ د $a_1, \ldots, a_n$ ګډ پروېشونی بلل کیږی، که $b \mid a_i, i = 1, \ldots, n$ باور دلري.

دویم : د ټول خورا غټ ګډ پروېشونی (نسبت $\leq$ ته) د $\mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n)$ سره په نخښه کیږي. که ټول $a_i = 0$ صفر نه وي، نو $a_i \neq 0$ هر یو فقط پای ډېر پروېشوني لري، یعنې هم پای ډېر ګډ پروېشوني. د دوي تر منځ یو خورا غټ شتون لري.

دریم : که $\mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = 1$ وي، نو $a_1, \ldots, a_n$ نسبي لومړني(وروسته به دا پروېش پردي وبلل شي) بلل کیږي.

څلورم : $a_1, \ldots, a_n$ جوړه(حفت) نسبیي لومړني ګڼونه یا عددونه بلل کیږي، که $\mathrm{ggT}(a_i, a_j) = 1$ وي د ټولو $\forall i \neq j$ لپاره.

یادونه 2.3.2 : له جوړه نسبي لومړنیو څخه لومړني لاس ته راځي. برعکسونه یا په

څټ کېدنه يې باور نه لري:

$$\mathrm{ggT}(1,2,4)=1, \mathrm{ggT}(2,4)=2$$

دا په دې معنا چې $(1,2,4)$ نسبي لومړني مګر نه جوړه لومړني ګڼونه دي.

جملە2.3.3 : وي دې $a_1,\ldots,a_n \in \mathbb{Z}$ ، نه ټول صفر او $d=\mathrm{ggT}(a_1,\ldots,a_n)$. نو باور لري:

$d=\sum_{i=1}^{n} x_i a_i$	(2.20)

د څه يا ځنو $x_i, i=1,\ldots,n$ لپاره.

ښوونه : وي دې

$M:=\{c_1a_1+\cdots+c_na_n\in\mathbb{Z} \mid c_i\in\mathbb{Z}\ i=1,\ldots,n\},$	(2.21)

نو $a_i\in M, i=1,\ldots,n$ $(c_i=1, c_j=0$ باور لري د $i\neq j)$ او $M\neq\emptyset$ لپاره. د $a_i\in M$ له امله هم $-a_i\in M$ باور لري، که $a_i\notin\mathbb{N}$ وي، نو $-a_i\in\mathbb{N}$ باور لري ، دا په دې معناچې هم M طبيعي يا پيداښتي ګڼونه يا عددونه لري. د $\mathbb{N}$ د ټولنظم له مخې په M کې د ټولو طبيعي اعدادو ډېرې يا ستې يو خوا کوچنی توکی d^* لري، دا په دې معناچې

$d^*=x_1a_1+\cdots+x_na_n$	(2.22)

د ځنو $x_1,\cdots,x_n\in\mathbb{Z}$ لپاره . وښايی: $d^*=d=\mathrm{ggT}(a_1,\ldots,a_n)$:

د پاتي سره د a_i وېشنه په d^* له لارې راکوي:

$a_i = q_i d^* + r_i, 0 \leq r_i < d^*;$	(2.23)

نو $r_i = a_i - q_i d^*$ او $r_i \in M$ د $a_1, \ldots, a_n$ کرښيز کمبينيشن دی، همداسې a_i ، په تعقيب کمښت يا تفريق هم. له دې سره له $0 \leq r_i < d^* : r_i = 0.$ څخه لرو. يعنې:

$$a_i = q_i d^* \quad \text{und} \quad d^* \mid a_i \ \forall i = 1, \ldots, n. \tag{2.24}$$

وي دې $t \geq 1$ د $a_1, \ldots, a_n, t$ يو په خوښه ګډپروېشونی، نو t هر کرښيز کمبينيشن وېشي يعنې دا لاندې هم

$$t \mid x_1 a_1 + \cdots + x_n a_n = d^*; \tag{2.25}$$

$d^* = \mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = d.$ له دې سره د 2.2.11 پسې لرو، چې

□

د $d = \mathrm{ggT}(a_1, \ldots, a_n)$ د ټاکلو لپاره تلنلار:

د $n = 2$ لپاره: د اويکليد الګوريتم، جمله 2.2.1 .

د $d \geq 1$ له املې کېدی شي سرې توليزونيسي(فرض کړي)(پرته له دې مطلق ارزښت، $a_i > 0$ ، چې صفر دي،(لرې)پرېږدي). سرې اوس د $a_1, \ldots, a_n$ لاندې

هغه خورا کوچنی لټوي، دا دي بې له ټولیزو بندیزونو a_1 وي(کېدی شي نمره بدل شي). د پاتي سره د $a_2, \ldots, a_n$ وېش د a_1 له لارې راکوي:

$$a_i = q_i a_1 + r_i, 0 \leq r_i < a_1 \ i = 2, \ldots, n. \quad (2.26)$$

وښایی: $d = \text{ggT}(a_1, \ldots, a_n) = d' = \text{ggT}(a_1, r_2 \ldots, r_n)$

وي دي

$$d := \text{ggT}(a_1, \ldots, a_n), d' := \text{ggT}(a_1, r_2 \ldots, r_n); \quad (2.27)$$

نو باور لري $d \mid a_1, \ldots, a_n$ ، یعني $d \mid a_1$ ، او له $r_i = a_i - q_i a_1$ لاس ته راځي $d \mid r_i \ (i = 2, \ldots, n)$ ، دا په دې معناچې d د $a_1, r_2, \ldots, r_n$ یو ګډ پروېشونی دی. d' خورا لویه ده له دې لاس تخ راځي $\Rightarrow d \leq d'$

برعکس یا په څټ باور لري: d' $a_1, d' \mid r_i \ (i = 2, \ldots, n)$ وېشي،، یعني داسي لاس ته راځي $a_i = q_i a_1 + r_i : d' \mid a_i \ (i = 2, \ldots, n)$ (د لیما یا جملګی 2.1.3 پسي)، یعني d' د $a_1, \ldots, a_n$ ګډپروېشونی دی. d خورا لوی دی له دې لاس ته راځي $\Rightarrow d' \leq d \overset{3b}{\Rightarrow} d = d'.$.

یادونه : په پام کې دې وي: د دې تلنلار سره ګډونه یا غددونه تل کوچني کیږي($0 \leq r_i < a_1$) او د امکان په حالت کې حتی کمیږي(کېدی شي $r_i = 0$ وي).

بېلګه 2.3.5 : $d = \text{ggT}(721, 613, 114)$.

$a_1 = 114$ ، وېش له پاتې سره :

$$721 = 6 \cdot 114 + 37, 0 \leq 37 < 114$$

،

$$613 = 5 \cdot 114 + 43, 0 \leq 43 < 114$$

.

$d = \mathrm{ggT}(114, 37, 43)$ له دې سره: .

$\tilde{a}_1 = 37$ ، وېش له پاتې سره:

$$114 = 4 \cdot 37 + 3, 0 \leq 3 < 37$$

،

$$43 = 1 \cdot 37 + 6, 0 \leq 6 < 37$$

.

$d = \mathrm{ggT}(37, 3, 6)$ له دې سره: .

$\tilde{\tilde{a}}_1 = 3$ ، وېش له پاتې سره:

$$37 = 12 \cdot 3 + 1, \cdots \Rightarrow d = 1$$

.

۳ - لومړنۍ ګڼونه(اعداد) Primzahlen

لومړنۍ ګڼونه$\mathbb{P}$

Die Menge der Primzahlen $\mathbb{P}$

Grundlagen بنسټونه

پېژندنه(تعريف) 3.1.1 : يو طبيعي ګڼ يا عدد p لومړنی بلل کيږي، که هغه فقط ساده پروېشوني ولري، دا په دې معنا، چې فقط $\pm 1, \pm p$ پروېشوني دي.

د ټول لومړنيو اعدادو ډېرې د $\mathbb{P}$ سره په نخښه کوو.

جمله : (اويکليد) ناپای ډېر لومړني ګڼونه شته.

ښوونه: نيسو، چې $p_1, \cdots, p_n$ ټول لومړني اعداد دي چې شتون لري. جوړوو

$$N := p_1 \cdots p_n + 1. \quad (3.1)$$

ترڅېرنې نيسو

$$M := \{q \in \mathbb{N} \mid q > 1 \text{ او } q \mid N\}, \quad (3.2)$$

نو $M \neq \emptyset$ دی، ځکه چې $N \in M$ (په ساده توګه $\forall\, N > 1, N \mid N$). د ټول نظم اصولو سره يو خورا کوچنی توکی q شتونلري، دا په دې معنا، چې $q > 1$ او $q \mid N$. وښايی: q يو لومړنی عدد دی:

وي دي $t > 1$ د $t \mid q$ سره، نو د 2.1.3 پسې لاس ته راځی، چې $t \mid N \Rightarrow t \in M$. له $t \leq q$ ، د q خورا کوچنی توکی دی. يعنې $M \Rightarrow t = q$ لومړنی ګڼ دی، له نيونې څخه لاس ته راځي: $\exists j : q = p_j$. له دې سره $q \mid N \ (q \in M)$ باولري او په ساده توګه :

$$p_j \mid p_1 \cdots p_n \overset{2.1.3}{\Rightarrow} p_j \mid N - p_1 \cdots p_n = 1 \Rightarrow p_j \leq 1, \quad (3.3)$$

- تضاد □

د ټول لومړنيو اعدادو ټاکل، چې $n \in \mathbb{N}$ ورکړ شوی): د اراتوستنس [3.1] دي ($\leq n$ غلبيل : *Eratosthenes*

ټو له 1 تر n پورې ټول ګڼونه وليکه، که ټول لومړني اعداد پېژندل شوي وي، نو سړی دې د ټولو دې لومړنيو ګڼونو په ډېرواره کرښه راکاږي (تر پخپله لومړني $\leq \sqrt{n}$ عدد پورې)، اوس فقط لومړني ګڼونه پاتې دي.

بېلګه 3.1.3 : ټول له ≤ 50 لومړني عددونه وټاکی. د $\sqrt{50} < 8$ او $2, 3, 5, 7$ له امله ټول لومړني < 8 عددونه لاس ته راځي(≤ 50 جوړه اعداد کېدی شي تر 2 پورې لري شي):

$$2, 3, 5, 7, \cancel{9}, 11, 13, \cancel{15}, 17, 19, \cancel{21}, 23, \cancel{25}, \cancel{27}, 29, 31, \cancel{33}, \cancel{35},$$

$$37, \cancel{39}, 41, 43, \cancel{45}, 47, \cancel{49}$$

ټول اعداد چې کرښه په راکښل شوې نه ده لومړني اعداد دي او ≤ 50 دي.

يادونې 3.1.4 :

لومړی: د دې لپاره چې ايا يو عدد پريم دی، که نه، يوه اغيزمنه – يا اقتصادي تلنلار نه شته(لږ تر لږه تر اوسه، وګورئ[Gut02b, Rie94])، کارونه يا استعمالیې په کريپټولوژي Kryptologie کې کيږي.

دويم: د لومړنيو ګڼونو جمله:

که $\pi(x)$ د لومړنيو ګڼونو $(x \in \mathbb{N})$ $\leq x$ ګڼون يا تعداد وي ، نو باور لري

(3.4)	$\pi(x) \sim \frac{x}{\ln x}$

دريم: د لويي $x \in \mathbb{N}$ لپاره

نږدي:

$$\pi(100) \sim 178; \pi(1000) \sim 1247; \pi(10000) \sim 9360$$

څلورم : لومړني اعداد په طبيعي اعدادو کط ډېر نامنظم خواره دي، له يوي خوا يو په بل پسې لومړني ګڼونه شتون لري، چې د هغو کمښت 2 دی، داسې په نامه د لومړنيو اعدادو غبرګوني: (اټکل کيږي، چې ناپای ډېر د لومړنيو اعدادو غرګوني شتون لري، د دې لپاره [Gut02a], [HL22] وګورئ).

له بلې خوا د دوه لومړنيو اعدادو ترمنځ په خوښه لويي تشياوي شتون لري:وي دې $n \in \mathbb{N}$ ، نو $(n+1)!+2, \ldots, \quad (n+1)! \quad +(n+1)$ ګڼونه

همدا اوس n يو په بل پسې اعداد دي، چې لومړني اعداد نه دی، ځکه چې:

که $g = (n+1)! + k$ د $2 \leq k \leq n+1$ سره وي، نو باور لري

$k \mid k, k \mid (n+1)! \overset{2.1.3}{\Rightarrow} k \mid g$ له دې لاس ته راځي ، کوم ته چې

$k \neq 1\ (2 \leq k)$ او $k \neq g\ (g = (n+1)! + k > k)$.(د اعدادو پرلپسې

کېدی شي لا له پخوا رامنځ ته شي، لکه د $n = 4$ لپاره $24 - 27$ دی دا همدا

اوس یوه تشیا ده، لکه چې غوښتل مو چېرته چې $27 \ll (4+1)! + 2$ دی).

پنځم : د دیریښلیت[3.2] Dirichlet جمله : که $a, b \in \mathbb{N}$ وي د $ggT(a,b) = 1$

سره، نو ډېرې دا لاندې خوندي لري

$$\{ak + b \mid k = 1, 2, \ldots\} \quad (3.5)$$

ناپای ډېر لومړني اعداد. (د اریتمیتیکي پروګرشن لپاره د لومړنیو اعدادو جمله، تولیزه ښوونه ډېره پېچلي ده!)

د $\{4k+1 \mid k = 1, 2, \ldots\}$ لپاره ، همداسې $\{4k+3 \mid k = 1, 2, \ldots\}$ لپاره

لږ څه وروسته ښایو(جمله 9.2.8 همداسې جمله 3.1.10 وګورې).

شپږم: د $2^{2^n} + 1 (n \in \mathbb{N})$ بڼې عدد د فرمات عدد[3.3] *Fermat'sche Zahl* بلل

کیږي، د $n = 0, 1, 2, 3, 4$ لپاره په ریښتوني لومړني اعداد دي:

$$3, 5, 17, 257, 65.537$$

.

له دې پسې چا نور د فرمات اعداد پیدا نه کړل. تر اوسه معلومه نه ده، چې ایا پای او که ناپای ډېر فرمات ګڼونه شتون لري. د فرمات کوچنی عدد، چې تراوسه یط ځوک ترتیبولی نه شي F_{33} دی.

اوم : يو د $2^n - 1 \ (n \in \mathbb{N})$ بڼې عدد د مرزن عدد *Mersenne'sche Zahl*[3.4] بلل کيږي. د دې ډول ټول اعداد لومړني اعداد نه دي. دلته هم روښانه نه ده، چې ايا پای ډېر مرزن ګڼونه شتون لري. دا تراوسه خورا ستر لومړنی عددد مرزن عدد دی، داسې نامیز $p = 2^{13.466.917} - 1$.

اتم: د ګولدبښ ګومان : هر جوړه عدد له څلور سره برابر يا تر لوی وي د دوه لومړنيو اعدادو د زياتون يا جمعې په څېر انځورورِ دی. (د بېلګې په توګه $4 = 2 + 2, 6 = 3 + 3, 8 = 3 + 5, \ldots$). د عدد 1742 په هکله ګومان کېدی شي نه تراوسه وښوول شي او نه رد شي.

جملە3.1.5 : که $a_1, \ldots, a_n \in \mathbb{Z}$ وي او p يو لومړنی عدد د $p \mid a_1 \cdots a_n$ سره وي، نو لږ تر لږه p د ضريبونن يا ځلوونو $a_i, 1 \leq i \leq n$ څخه يو وېشي.

ښوونه: د n پسې ايندکشن:

$n = 1$: ساده دی.

$n \to n + 1$:

وي دې $p \mid a_1 \cdots a_n a_{n+1}$ ، باور لري $p \mid a_{n+1}$ ، نو وښوول شو. پرته له دې: $p \nmid a_{n+1}$ نو $\mathrm{ggT}(p, a_{n+1}) = 1$ دی، داسې چې د بنسټيزې جملګی2.2.12 څخه لاس ته راځي، چې $p \mid a_1 \cdots a_n$. د ايندکشن د نيونې يا فرضيې څخه لاس ته راځي $p \mid a_i$ د $1 \leq i \leq n.$ لپاره.

□

لاس ته راوړنه3.1.6 : د $n = 2$ لپاره باور لري: p د $a_1 \cdot a_2$ یو پروېښونی دی، p لومړنی ګڼ له دی لاس ته راځي $p \mid a_1 \vee p \mid a_2 \vee p \mid a_1, a_2$. په څټوالی یا معکوسوالی هم باور لري: که g یو طبیعي عدد وی د،، $g \mid a_1 \cdot a_2 \ (a_1, a_2 \in \mathbb{Z})$ سره، نو تل دواړه $g \mid a_1 \vee g \mid a_2 \vee$ لاس ته راځي،، ، نو g بیا یو لومړنی ګڼ دی.

ښوونه: نیسو، چې g لومړنی عدد نه دی، نو g بیا اصلي پروېښوني لري، دا په دې معنا چې $g = a \cdot b$ ، چېرته چې $1 < a < g, 1 < b < g$ دي . نو باور لري: $g \mid a \cdot b$ ، یعني د نیونې له مخې $g \mid a \vee g \mid b$. که $g \mid a$ وي، نو د $a \mid g \ (g = a \cdot b)$ سره لاس ته راځي، چې $g = \pm a$ - تضاد.

که $g \mid b$ وي، نو په ورته توګه لاس ته راځي $g = \pm b \Rightarrow g$ ، چېg باید لومړنی وي.

□

نور خویونه Weitere Eigenschaften

جمله 3.1.7 : (لومړني ضربېتوټه ونه یا په لوړنیو ضربیونو توټه کونه) هر طبیعي عدد $n > 1$ کېدی شي په یواځني ډول د لومړنیو عددونو دضرب په څېر ولیکل شي(دا په دې معنا ، چې لومړني ګڼونه د $\mathbb{N}$ ضریبي جوړښتخښتي دي).

ښوونه:

شتونوالی:

په n پسې د (ټولیز شوي) ایندکشن Induktion له لارې:

: $n = 2$

ساده

: $n - 1 \to n$:

بنایو: جمله د $2, 3, \ldots, n-1$ لپاره ټیک ده.

نسیده، نیسو چې $\exists k : 2 \leq k \leq n-1$ ، کوم چې د لومړنیو ګنونو یا عددونوضرب نه دی. وي دې k_0 د دوی ترمنځ خورا کوچنی عدد. نو k_0 لومړنی عدد نه دی. یعنې که باور ولرې $k_0 = a \cdot b$ ، چېرته چې $a < b < k_0$ ، له دې سره لاس ته راځی:

a او b هر یو د لومړنیو ګنونو ضرب دی، له دې امله k_0 هم د لومړنیو ګنونو ضرب دی – تضاد!

وښایې: n د لومړنیو عددونو ضرب نه دی.

که n لومړنی عدد وي، نو مورِ کار تمام کړ.

که n لومړنی عدد نع وي، نو $n = cd$ باور لرې د $1 < c, d < n$ سره. د پورته پام کونې څخه جمله د c, d لپاره ټیک ده، دا په دې معنا چې هر یو د لومړنیو عددونو ضرب دی، یعنې هم $n = c \cdot d$.

یواخېوالی یا یواځنوالی:

وي دې $n > 1$ او

(3.6)	$n = p_1 \cdots p_r = q_1 \cdots q_s$

د کومو سره چې $p_i, q_j \in \mathbb{P}, r \leq s$. د $p_1 \mid p_1 \cdots p_r$ له املې لاس ته راځي $p_1 \mid q_1 \cdots q_s$ ، د 3.1.5 پسې لرو $p_1 \mid q_i$ (p_1 لومړنی عدد) د لږ تر لږه یوې i لپاره د $1 \leq i \leq s$ سره ، له دې املې $p_1 = \pm 1$ یا $p_1 = \pm q_i$ (q_i لومړنی عدد) ، یعنې $p_1 = q_i$ ($p_1 > 1$) . د نمرې بدلون سره کېدی سړی لاس ته راوړي: $p_1 = q_1 \ (q_i \to q_1)$. له دې سره لاس ته راځی

$$p_1 p_2 \cdots p_r = q_1 q_2 \cdots q_s \Leftrightarrow p_2 \cdots p_r = q_2 \cdots q_s; \quad (3.7)$$

په ورته توګهمخ ته خو، تر $p_r = q_r, 1 = q_{r+1} \cdots q_s$ پورې.

که $s > r$ وی نو باور لرې چې q_{r+1} ښې خوا وېشي: $q_{r+1} \mid 1$ ،یعنې $q_{r+1} \leq 1$ ، و q_{r+1} ته تضاد چې لومړنی عدد دی له دې لاس ته راځي $\Rightarrow s = r$ او له دې سره $p_i = q_i, 1 \leq i \leq r$.

یادونه 3.1.8 : که $g \in \mathbb{Z}$ وي د $g < -1$ سره، نو $-g > 1$ دی او د 3.1.7 پسې $-g = p_1 \cdots p_r$ د ځنو ، یواځنیو، لومړنیو ضزیبونو لپاره، یعنې $g = -p_1 \cdots p_r$.

یادونه 3.1.9 : که د $n > 1,$ د لومړنیو ضریبونو توټه کونه سره یوځای کړو

$$n = p_1 \cdots p_r \quad (3.8)$$

مساوي عددونه سره یوځای کړو، نو د لومړنیو عددونو توان لاس ته راځی، یعنې

$n = p_1^{\alpha_1} \cdots p_r^{\alpha_r}, \alpha_i \in \mathbb{N}.$	(3.9)

که دا دلته نه شتون لرونکو لومړنیو عددونه p د $p^0 := 1$ له لارې پوره کړو، نو سړی لیکلی شي:

$$n = \prod_{p \in \mathbb{P}} p^{\alpha_p} \quad (3.10)$$

(د ټول لومړنیو عددونو ضرب، فقې پای ډېر $\alpha_p \neq 0$!). له دې سره $1 = \prod_{p \in \mathbb{P}} p^0$ هم لیکلی شو. یعنې د په ټولیزه توګه د ټول $g \in \mathbb{Z}, g \neq 0$ لپاره باور لري :

$$g = \pm \prod_{p \in \mathbb{P}} p^{\alpha_p} \qquad (\alpha_p \in \mathbb{N}_0). \quad (3.11)$$

جمله 3.1.10 (دیریښلیت) د $4k + 3 \ (k = 0, 1, \dots)$ بڼې ناپای ډېر لومړني ګڼونه شتون لری، دا به دې معنا ، چې د $\{3, 7, 11, 15, 19, \dots\}$ عدونو په ډېرې کې ناپای ډېر لومړني عددونه شتون لری..

ښوونه: نیسو چې په دې ډول ډېر لومړني عددونه شتون لري، چې د $p_1, \dots, p_s$ سره یې سړی په نخښه کولی شي. سړی جوړوي

$$N := p_1^2 \cdots p_s^2 + 2; \quad (3.12)$$

د نیوني یا فرضیي له مخي د ځنو $k_i \in \mathbb{N}_0 \ (i = 1, \ldots, s)$ لپاره $p_i = 4k_i + 3$ باور لري، یعني

$p_i^2 = (4k_i + 3)^2 = 16k_i^2 + 24k_i + 9 = 4k + 1$	(3.13

$(4k + 3)(4l + 3) = 4m + 1$ د یوه $m \in \mathbb{N}$ لپاره. له دي امله د یوه k لپاره. له دي امله $N := p_1^2 \cdots p_s^2 + 2$ بڼه $(4n + 1) + 2 = 4n + 3$ لري.

وي دي $N = q_1 \cdots q_r$ د $N \in \mathbb{N} \ (N > 1)$ په لومړنیو ګڼونو توته ونه. نه تول q_i د بڼې $4k + 1$ دي(ځکه چې بیا به N هم له دي بڼې وی). له دي امله q_j ، $1 \leq j \leq r$ یو شتون لري د بڼې $q_j = 4k + 3$ سره(د پاتې سره وېشنه راکوي: $0 \leq a < 4$ ، یعني $q_j = 4 \cdot k + a$.

مګر $4k + 0$ او $4k + 2$ لومړني عددونه نه دي . $4k + 1$ که همدا اوس تري دباندي دی. 2 د ضریب په حیث نه رامنځ ته کیږي، ځکه چې $N = 4k + 3$ ناجوړه دی).

لاس ته راځي: $q_j = p_i$ د یوه $i \ (1 \leq i \leq s)$ لپاره چېرته چې لرو $q_i \mid N$ او

$$q_j = p_i \mid p_1^2 \cdots p_s^2 \Rightarrow q_j \mid N - p_1^2 \cdots p_i^2 \cdots p_s^2 = 2, \quad (3.14)$$

یعني $q_j \leq 2$ - تضاد ($q_i = 4k + 3 \geq 3$).

□

د $\mathbf{ggT}$ او $\mathbf{kgV}$ ترمنځ اړيکي(د خ غ ک او خ ک ګ زياتځلي - -

$$a = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\alpha_p} \quad b = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\beta_p}$$

جمله3.2.1 : وي دي ، ، نو باور لري

$$\mathbf{ggT}(a,b) = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\min(\alpha_p,\beta_p)}. \quad (3.15)$$

$$x = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\rho_p}, y = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\sigma_p}$$

ښوونه: ښايو: وی دی ، نو باور لري:

$$x \mid y \Leftrightarrow \rho_p \leq \sigma_p \; \forall p \in \mathbb{P}$$

$(\Rightarrow)$ يا له ذدې لاس ته راځي

$$x \mid y \Rightarrow y = x \cdot z$$

،

$$z = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\tau_p}$$

د سره په لومړنيوضريبونو ټوټه کوني په حيث، يعني

$$\prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\rho_p+\tau_p} = \left(\prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\rho_p}\right)\left(\prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\tau_p}\right) = xz = y = \prod_{p\in\mathbb{P}} p^{\sigma_p}. \quad (3.16)$$

په لومړنيوضريبونو ټوټه کوني د يواخيوالي په بنسټ لاس ته راځيعددونو په

$$\rho_p + \tau_p = \sigma_p \; \forall p \in \mathbb{P}; \quad (3.17)$$

د 1.1.4 پسې لاس ته راځي $\rho_p \leq \sigma_p \ \forall p \in \mathbb{P}$.

$(\Leftarrow)$

$\rho_p \leq \sigma_p \ \forall p \in \mathbb{P}$ ، نو د 1.1.4 پسې باور لري:

$$\sigma_p = \rho_p + \tau_p \ \ \tau_p \in \mathbb{N}_0 \ \forall p \in \mathbb{P}. \quad (3.18)$$

وي دي $z := \prod_{p \in \mathbb{P}} p^{\tau_p}$ ، نو لاس ته راځي:

دویم: $x^2 - 2 \equiv 0(8)$: د دې عددونو $0, 1, \ldots, 7$ څخه کوم یو حل نه دی، دا په دې معنا، چې دا کونګروانت کوم حل نه لري.

د $f(x) \equiv 0(m)$ حل متودونو ته تشریح.

پېژند(تعریف) : که

$$f(x) = a_n x^n + a_{n-1} x^{n-1} + \cdots + a_1 x + a_0 \ (a_i \in \mathbb{Z})$$

وي، نو

$$f'(x) = n a_n x^{n-1} + (n-1) a_{n-1} x^{n-2} + \cdots + 2a_2 x + a_1 \quad (5.28)$$

د $f(x)$ (فورمال) مشتق بلل کیږي.

یادونه5.3.6 : د ټول $\forall x, a \in \mathbb{Z}$: لپاره باور لري :

$$f(x) - f(a) = (x - a) g(x) \quad (5.29)$$

د یوه پولینوم g لپاره د په $\mathbb{Z}$ کې ضریبونو سره، چېرت چې $g(a) = f'(a)$ باور لري..

($\lim_{x \to a} \frac{f(x) - f(a)}{x - a} = f'(a)$ ، ځکه چې f پولینوم دی، دا په دېمعنا، چې مشتقور $\lim_{x \to a} g(x) = g(a)$ ، ځکه چې g پولینوم دی له دې لاس ته راځي، چې ناپرېکېدونکی دی.)

د حلونوو عملي شمېرنه Praktische Berechnung der Lösungen

لومړی : لیما 5.3.7 : $f(x) \equiv 0(m)$ تیک هلته حلور دی، که $f(x) = 0(p_i^{\alpha_i})$

حلور وي د ټولو $i = 1, \ldots, k$ لپاره او که $m = p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k}$ د m لومړنی ضریب ټوټه ونه وي.

ښوونه :

$(\Rightarrow)$

که $f(x) \equiv 0(m)$ حلور وي، نو $f(x_0) \equiv 0(m)$ باور لري د یوه $x_0 \in \mathbb{Z}$ لپاره، یعني $f(x) \equiv 0(p_i^{\alpha_i})\ \forall i = 1, \ldots, k$ هم حلور دی ځکه چې $p_i^{\alpha_i} \mid m$ (4.1.5(3)).

$(\Leftarrow)$

که $f(x) \equiv 0(p_i^{\alpha_i})\ \forall i = 1, \ldots, k$ حلور وي، نو $f(a_i) \equiv 0(p_i^{\alpha_i})$ باور لري د $a_i \in \mathbb{Z}(i = 1, \ldots, k)$ لپاره. په ټولیزه توګه a_i مختلف دي!

د ا لاندې سیستم تر څېړنې نیسو

$$\left.\begin{array}{rcl} x & \equiv & a_1(p_1^{\alpha_1}) \\ & \vdots & \\ x & \equiv & a_k(p_k^{\alpha_k}) \end{array}\right\} \quad (5.30)$$

د چینایي پاتې جملې 5.2.1 له مخې دا سیستم یو حل $a \in \mathbb{Z}$ لري (مودولونه جوړه لومړني دي) دا په د ېمعنا، چې

.

$$\left.\begin{array}{rcl} a & \equiv & a_1 (p_1^{\alpha_1}) \\ & \vdots & \\ a & \equiv & a_k (p_k^{\alpha_k}) \end{array}\right\} \quad (5.31)$$

يعني د لاس ته راوړني(3)4.1.6 له لاري :

$$f(a) \equiv f(a_i)(p_i^{\alpha_i}), i = 1, \ldots, k, \quad (5.32)$$

دا په دي معنا، چې $f(a) \equiv 0(p_i^{\alpha_i})\ \forall i$ ، له دي سره د (5)4.1.5 پسې

$$f(a) \equiv 0(p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k}). \quad (5.33)$$

يعني: $a \in \mathbb{Z}$ د ورکړ شوي کونګروانت حل دی.

دويم : د $f(x) \equiv 0(p^n)$، p لړمړنی عدد د حل متود يا لار ، په خوښه $n \in \mathbb{N}$ د حلونو مودولو p کې و حلونو مودولو p^2 ته ; له دوی څخه و حلونو مودولو p^3 ته، ... په ،، مخ ته تلنه،، کې پروت دی،... تر هغې چې سړی حل مودولو p^n لاس ته راوړي:

د $0, 1, \ldots, p-1$ ځا په ځای کوني يا اينووني له لاري د $f(x) \equiv 0(p)$

ټول حلونه پيدا د د $f(x) \equiv 0(p^{n-1})$ ټول حلونه دي معلوم وي ، نو باور لري:

لپما . وي دي $x_0 \in \mathbb{Z}$ د $f(x) \equiv 0(p^n)$ حل ، نو باور لري :

$$x_0 = a + tp^{n-1}, \qquad (5.34)$$

چېرته چې $a, t \in \mathbb{Z}$ د $f(a) \equiv 0(p^{n-1})$ سره دی.

ښوونه:

د $f(x_0) \equiv 0(p^n)$ له امله هم باور لري،

يعني x_0 له نيوني سره سم پېژندلی دی ، ($\bmod p^{n-1}$) $x_0 \in \overline{a}$ د يوه $a \in \mathbb{Z}$
لپاره ، يعني $x_0 = a + tp^{n-1}$ د $t \in \mathbb{Z}$ لپاره□

نه د هر $t \in \mathbb{Z}$ لپاره دا $x_0 = a + tp^{n-1}$ د $f(x) \equiv 0(p^n)$ حل دی، دا
کوم $t \in \mathbb{Z}$ دي؟

لپما5.3.9 : $x_0 = a + tp^{n-1}$ د $a, t \in \mathbb{Z}$ او $f(a) \equiv 0(p^{n-1})$ سره ټيک
هلته د $f(x) \equiv 0(p^n)$ يو حل دی، که $t \in \mathbb{Z}$ د کرښيز کونګروانځ يا ورته والي
حل وي؟

$$f'(a)x + \frac{f(a)}{p^{n-1}} \equiv 0(p) \qquad (5.35)$$

ښوونه:

$(\Rightarrow)$

وي دي $x_0 = a + tp^{n-1}$ د $f(a) \equiv 0(p^{n-1})$ سره د $f(x) \equiv 0(p^n)$ يو حل، د ښوول دی: دا t د کرښيز ګونګروانځ حل دی

$$f(x_0) - f(a) = (x_0 - a)g(x_0) = tp^{n-1}g(x_0) \Rightarrow \quad (5.36)$$

$$\Rightarrow f(a) + tp^{n-1}g(x_0) = f(x_0) \equiv 0(p^n). \quad (5.37)$$

د $p^{n-1} \mid f(a)$ (نيونه يا فرضيه) او $\gcd(p^{n-1}, p^n) = p^{n-1}$ له امله لاس ته راځي:

$$\frac{f(a)}{p^{n-1}} + tg(x_0) \equiv 0(p). \quad (5.38)$$

دا چې $x_0 = a + tp^{n-1}$ دی، نو $p \mid x_0 - a$ باور لري: ، يعني $x_0 \equiv a(p)$ ، د(3)4.1.6 پسې $g(x_0) \equiv g(a)(p)$ باور لری (ځکه چې g پولينوم دی)، دا په دي م عنا، چې

$$g(x_0) \equiv f'(a)(p) \Rightarrow \frac{f(a)}{p^{n-1}} + tf'(a) \equiv 0(p). \quad (5.39)$$

$(\Leftarrow)$

وي دي $t \in \mathbb{Z}$ د $f'(a)x + \frac{f(a)}{p^{n-1}} \equiv 0(p)$ حل، دا په دي معنا، چې باورلري:

$$f'(a) \cdot t + \frac{f(a)}{p^{n-1}} \equiv 0(p). \quad (5.40)$$

بنايو؛ $x_0 = a + tp^{n-1}$ د $f(x) \equiv 0(p^n)$ يو حل دی.

لاس ته راځي: $p^{n-1}f'(a)t + f(a) \equiv 0(p^n)$. د $x_0 - a = tp^{n-1}$ له امله باور لري:

$$f'(a)(x_0 - a) + f(a) \equiv 0(p^n), \quad (5.41)$$

يعني $f(x_0) - f(a) + f(a) \equiv 0(p^n)$ ، ځکه چې

$$f(x_0) - f(a) = (x_0 - a)g(x_0) \equiv tp^{n-1}f'(a)(p^n). \quad (5.42)$$

له دي سره $f(x_0) \equiv 0(p^n)$ ، دا په دي معنا، چې

$$x_0 = a + tp^{n-1} \quad (5.43)$$

د $f(x) \equiv 0(p^n)$ حل دی.

لومړی : $a_i \in \mathbb{Z}$ د $f(x) \equiv 0(p_i^{\alpha_i})$ ټول حلونه د هر

$i = 1, \ldots, k \ (m = p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k})$ لپاره معلوم دي، نو بیا سړی په خوښه یو k -

توپل یا k –ګون جوړوي، چېرته چې $f(a_i) \equiv 0(p_i^{\alpha_i}) \ \forall i$ ، او دا سیستم باورلري:

$$\left.\begin{array}{rcl} x & \equiv & a_1(p_1^{\alpha_1}) \\ & \vdots & \\ x & \equiv & a_k(p_k^{\alpha_k}) \end{array}\right\} \quad (5.44)$$

یم : نو دا سیستم بیا د ضرب $p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k} = m$ مودولو یواځنی حل $a \in \mathbb{Z}$

ي. د پل یو پسې له دي املې $f(x) \equiv 0(m)$ هم د $a \in \mathbb{Z}$ یو حل دی.

که 5.3.10 :

!

$x^3 + 2x^2 - 2x - 6 \equiv 0(135).135 = 5^1 \cdot 3^3, p_1 = 5, \alpha_1 = 1, p_2 = 3, \alpha_2 = 3$

لومړی : حل $\mathbf{mod}\, 5^1$:

$x^3 + 2x^2 - 2x - g \equiv 0(5)$ فقط حل $1(\neg 0, \neg 2, \neg 3, \neg 4)$ لري ، دا په دي

م عنا، چې $a_{11} = 1$. مخ ته تلنه یې اړیښنه نه ده، ځکه چې $\alpha_1 = 1$.

دویم: حل $\mathbf{mod}\, 3^3$:

لومړی $\mathbf{mod}\, 3^1$:

$x^3+2x^2-2x-6\equiv 0(3)$ حل $0,2$ لري.

له دې څخه $\bmod 3^2$:

د $a=0$ مخ ته تلنه :

$f(a)=f(0)=-6, f'(a)=-2$ يعني بايد حل شي:

$$f'(0)x+\frac{f(0)}{p^1}\equiv 0(p), \quad (5.45)$$

$-2x+(-2)\equiv 0(3)\Rightarrow t=-1$ او دا په دې معنا، چې

$a_1=a+tp^{n-1}=$

$0+(-1)3=-3$

له دې څخه $\bmod 3^3$:

$f(-3)=-9, f'(-3)=13\Rightarrow 13x-\frac{9}{3^2}\equiv 0(3)$ دا په دې معنا،چې

$13x\equiv 0(3)$ ، يعني $x\equiv 1(3)$ ، يعني $t=1$.

$$a_{21}=a_1+tp^{3-1}=-3+1\cdot 9=6. \quad (5.46)$$

بېرته $\bmod 3^2$:

د $a = 2$ مخ ته بیونه یا مخ ته تلنه:

$$a_1 = a + tp^{2-1}$$

، چېرته چې t د

$$f'(a)x + \frac{f(a)}{p^{n-1}} \equiv 0(p); \quad (5.47)$$

حل دی.

$f'(2) = 18, f(2) = 0$ ، یعني حل کوو: $18x + \frac{6}{3} \equiv 0(3)$ ، دا په دې معنا، چې

$$18x \equiv -2(3)$$

د $\text{ggT}(18, 3) = 3 \nmid -2$ له امله لاس ته راځي:

کومه $t \in \mathbb{Z}$ شتون نه لري، ینې هم a_1 شتون نه لري، داپه دې معنا،چې د $a = 2$ و یو $\mathbf{mod}\, 3^2$ حل ته مخ ته بیونه نه شته ، یعني هم $\mathbf{mod}\, 3^3$ حل شتون نه لري.

$$\begin{array}{cc} \mathbf{mod}\, 5^1 & \mathbf{mod}\, 3^1 \\ \vdots & \vdots \\ 1 & 0 \quad 2 \\ & \downarrow \quad \downarrow \\ & \mathbf{mod}\, 3^2 \\ & \text{مخ ته بیونه ناشوني ده} \quad -3 \\ & \vdots \\ & \downarrow \end{array}$$

$$\begin{matrix} \mod 3^3 \\ : \end{matrix} \quad 6$$

لومړی: د $\mod 5^1$ او $\mod 3^3$ حلونو ټولګه : $(1,6)$ و لاندې سیستم ته:

$$\left.\begin{matrix} x & \equiv & 1(5) \\ x & \equiv & 6(3^3) \end{matrix}\right\} \quad (5.48)$$

ویم :

$$x = 1 + 5t \Rightarrow 1 + 5t \equiv 6(3^3) \Rightarrow 5t \equiv 5(27) \overset{ggT(5,27)=1}{\Rightarrow} t \equiv 1(27)$$

$x = 1 + 5t = 1 + 5 \cdot 1 = 6 \Rightarrow x = 6$ یواځنی $\mod 135$ له دې سره:
ناکونګروانځ حل دی.

د الجبري کونګروانځو دحلونو ګڼون یا تعداد

بېلګه5.3.11 :

$$5x \equiv 10(30) : ggT(5,30) = 5 \mid 10 \Rightarrow \exists\, 5 \mod 30 \quad ,$$

$$x^2 \equiv 2(8) : ,$$

$$x^2 \equiv 1(8) : ,$$

$$x^3 - x \equiv 0(3) \ : .$$

یادونه5.3.12 : په څرګنده توګه په تولیز ډول ناشوني دی، چې د الجبري ویناو د حلونوو په تعداد څه ووایو. او همداسې لاندې جمله هم د تعجب وړ ده، هغه چې د ځانګړي حالت لپاره، چې د لومړني عدد مودولو دی، مګر سره له دی پوښتنې ته ځواب، چې څومره حلونه شتون لري، ولرو:

جمله (لاګرانژ (1736-1813) [5.3]) 5.3.13 : وي دی

$$f(x) = a_n x^n + \cdots + a_1 x + a_0, a_i \in \mathbb{Z}$$

$(i = 1, \ldots, n)$ د $grad\ f = n$ سره او یو لومړنی عدد p دې ورکړ شوی وي. که p ټول $a_i, i = 1, \ldots, n$ ونه وېشي، نو $f(x) \equiv 0(p)$ خورا زیات $grad\ f = n(p)$ اینکونګروانیت حلونه لري.

ښوونه : سړی کړی شي له وړاندې ونیسي چې $p \nmid a_n$ ، داچې پرته له دې به باور ولري: $a_n x^n \equiv 0(p)$ ، او کونګروانیح ه یو کوچنی د رجه ولري.

$n = 1$:

$$a_1 x + a_0 \equiv 0(p) \quad \text{wobei} \quad p \nmid a_1; \tag{5.49}$$

که $\mathrm{ggT}(a_1, p) \mid -a_0$ ، نو باور لري، چې $\mathrm{ggT}(a_1, p) = 1 \bmod p$ اینکونګروانیخ حلونه شتون لري.

$n - 1 \to n$:

$$a_n x^n + \cdots + a_1 x + a_0 \equiv 0(p) \quad \text{mit} \quad (5.50)$$
$$ggT(a_n, p) = 1, p \nmid a_n.$$

یا حل نه شته، چې بیا کار تامدی.

یا : $a \in \mathbb{Z}$ دې له هغو څخه یو حل وي، د پورته پسې باور لري:

$$f(x_0) - f(a) = (x_0 - a)g(x_0) \quad (5.51)$$

د $f(x) \equiv 0(p)$ د هر د ورپسې حل $x_0 \in \mathbb{Z}$ لپاره، یعنې:

$$(x_0 - a)g(x_0) \equiv 0(p) \Rightarrow p \mid (x_0 - a)g(x_0); \quad (5.52)$$

د 3.1.5 له مخې لاس ته راځي $p \mid x_0 - a$ یا $p \mid g(x_0)$. که $p \mid x_0 - a$ وي، نو باور لري $x_0 \equiv a(p)$ ، دا په دې معنا، چې نور پسې اینکونګروانت حلونه نه شته.. که $g(x_0) \equiv 0(p)$ وي، له کوم سره چې د $f(x_0) - f(a) = (x_0 - a)g(x_0)$ له امله

grad g= $n-1$ باور لري. پسې g د a_n خورا جګ ضریب هم دی! د $p \nmid a_n$ وړاندنیوني له مخې باور لرې .

د ایدکشن وړاندنیوني له مخې د $x_0 \in \mathbb{Z}$ لپاره زیات له زیاته $n-1$ امکانات ($\bmod p$) شتون لري. له دې سره $f(x) \equiv 0(p)$ زیات له زیاته $(n-1)+1 = n \bmod p$ اینکونګروانت حلونه لري.

لومړني پاتې ټولکي کروپونه $\bmod m$

Die prime Restklassengruppe $\bmod m$

د أبل ګروپ $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ Die abelsche Gruppe

د 4.4.5 پسې یونونه یا واحدونه (دا په دې معنا، چې د معکوس کیدونکو توکو ضرب) ټیک د لومړنی پاتې ټولګي $\overline{a} \in \mathbb{Z}_m$ دي، دا په دې معنا، چې هر د $\mathrm{ggT}(a,m) = 1$ سره. وي دې $\mathbb{Z}_m^*$ په $\mathbb{Z}_m$ کې د ټولو واحدونو ډېرې یا ستې. نو باور لري:

لېما 6.1.1 : $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ یو ابل ګروپ جوړوي.

ښوونه:

لومړی: که $\overline{a}, \overline{b} \in \mathbb{Z}_m^*$ وي، نو $\overline{a} \cdot \overline{b} \in \mathbb{Z}_m^*$ دی ، نو $\overline{a} \cdot \overline{b} \in \mathbb{Z}_m^*$ دی، خکه چې $\overline{a} \cdot \overline{a'} = \overline{1}, \overline{b} \cdot \overline{b'} = \overline{1}$ د ځنو $\overline{a'}, \overline{b'} \in \mathbb{Z}_m$ لپاره، یعني

$$(\overline{a} \cdot \overline{a'}) \cdot (\overline{b} \cdot \overline{b'}) = \overline{1} \cdot \overline{1} = \overline{1}, \quad (6.1)$$

دویم: دا په دې معنا،چې $(\overline{ab})(\overline{a'b'}) = \overline{1}$ ، همداسې

$$(\overline{a'b'})(\overline{ab}) = (\overline{a'a})(\overline{b'b}) = \overline{1} \cdot \overline{1} = \overline{1}; \quad (6.2)$$

دويم: يعني د تعريف له مخې باور لري $\overline{a} \cdot \overline{b} \in \mathbb{Z}_m^*$.

دريم : اسوحياتيويتي روښانه ده، ځکه چې په ($\mathbb{Z}_m, \cdot$) کې پوره ده، او باور لري: $\mathbb{Z}_m^* \subseteq \mathbb{Z}_m$.

څلورام : کموتاتيويتي روښانه ده، ځکه چې همداسې له ($\mathbb{Z}_m, \cdot$) را پاتې ده.

پنځم: وي دې $\overline{a} \in \mathbb{Z}_m^*$ ، نو يو $\overline{b} \in \mathbb{Z}_m$ شتون لري، د $\overline{ab} = \overline{1}$ سره، يعني $\overline{b}\overline{a} = \overline{1}$ (د کموتاتيويتي له املې)، دا په دې معنا، چې $\overline{b}$ هم د $\mathbb{Z}_m$ يو يوون يا واحد دی، او له دې سره لاس ته راځي:

$$\overline{b} \in \mathbb{Z}_m^*. \quad (6.3)$$

پېژند (تعريف)6.1.2 : د ابل گروپ $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ لومړنی پاتېټولګي گروپ $\bmod m$ بلل کيږي.

بېلګه :

$$\mathbb{Z}_7^* = \{\overline{1}, \overline{2}, \overline{3}, \overline{4}, \overline{5}, \overline{6}\}, \mathbb{Z}_{12}^* = \{\overline{1}, \overline{5}, \overline{7}, \overline{11}\}$$

$\mathbb{Z}_m^*$ څومره توکي لري؟

په ټولیزه توګه د یوه ګروپ $(G,\cdot)$ د توکو تعداد یا ګنون د G نظم بلل کیږي.
سومبولیک $|G|$.

پېژند یا تعریف6.1.4 : د $(\mathbb{Z}_m^*,\cdot)$ نظم د $\varphi(m)$ سره ښوول - یا په نخښه کیږي، تابع یا بلواک

$$\varphi : \mathbb{N} \to \mathbb{N}, \varphi(n) \mapsto |\mathbb{Z}_m^*| \quad (6.4)$$

د اویلر *Euler* φ - تابع بلل کیږي.

لیما 6.1.5 : وي دي $m \in \mathbb{N}$ په خوښه، نو د $k \in \mathbb{N}$ ګنون یا تعداد $\varphi(m)$ دی د $1 \leq k \leq m$ او د $\mathrm{ggT}(k,m) = 1$ سره .

ښوونه : $\mathbb{Z}_m = \{\overline{1}, \overline{2}, \ldots, \overline{m} = \overline{0}\}$.

$\overline{k}$ لومړنی پاتې ټولګی mod m

دی

$$\overline{k} \in \mathbb{Z}_m^* \overset{4.4.5}{\Leftrightarrow} \Leftrightarrow \mathrm{ggT}(k,m) = 1,$$

دا په دې معنا، چې په $\mathbb{Z}_m^*$ کې د توکو تعداد یا ګنون د k د تعداد سره برابر دی، د $k \in \mathbb{N}, 1 \leq k \leq m$ $\mathrm{ggT}(k,m) = 1$ سره . □

پسې راتلنه یا نتیجه6.1.6 : وي دې $p \in \mathbb{P}$ یو په خوښه لومړنی ګڼ یا عدد، نو باور لرې: $\varphi(p) = p - 1$.

د $\varphi(m)$ شمیرنې ته *Zur Berechnung von* $\varphi(m)$

پېژند یا تعریف 6.1.7 : د ټولو اعداد یا د ټول اعدادو یوه ډېرې لومړنس پاتې سیستم $\bmod m$ بلل کیږی، که دا له هر لومړنی ټولګي $\bmod m$ ټیک یو توکی ولري.

لیما 6.1.8 : یو لومړنی پاتې سیستم ټیک $\bmod m$ ټیک $\varphi(m)$ توکي لري، ځکه چې د 6.1.5 پسې ټیک یوونونه یا واحدونه $\varphi(m) = |\mathbb{Z}_m^*|$ ، یعنې لومړني پاتې ټولګي $\bmod m$ شتون لري.

بېلګه 6.1.9 :

لومړی : $m = 6\{0, 1, \ldots, 5\}$ یو پوره پاتې سیستم دی، $\{1, 5\}$ یو لومړنی پاتې سیستم دی، یعنې : $|\mathbb{Z}_6^*| = 2$ ، دا په دې معنا، چې $\varphi(6) = 2$.

دویم:

$$m = 5\{0, 1, \ldots, 4\}$$

یو پوره پاتې سیستم دی، $\{1, 5\}$ یو لومړنی پاتې سیستم دی، یعنې $|\mathbb{Z}_6^*| = 2$ ، دا په دې معنا، چې $\varphi(6) = 2$.

جمله 6.1.10 : وي دي $m, n \in \mathbb{N}, \mathrm{ggT}(m,n) = 1$ ، $\{r_1, \ldots, r_{\varphi(m)}\}$ يو لومړنی پاتي سيستم $\mathrm{mod}\, m$ دی، او $\{s_1, \ldots, s_{\varphi(n)}\}$ يو لومړنی پاتي سيستم $\mathrm{mod}\, n$ دی، نو

$$T = \{nr_i + ms_j \mid i = 1, \ldots, \varphi(m), j = 1, \ldots, \varphi(n)\} \quad (6.5)$$

يو لومړنی پاتي سيستم $\mathrm{mod}\, m \cdot n$ دی.

ښوونه: $\{r_1, \ldots, r_{\varphi(m)}\}$ و يوه پوره سيستم $\mathrm{mod}\, m$ ته پوره يا تکميل کړئ:

$$\{r_1, \ldots, r_{\varphi(m)}, r_{\varphi(m)+1}, \ldots, r_m\} \quad (6.6)$$

او $\{s_1, \ldots, s_{\varphi(n)}\}$ و يوه پوره پاتي سيستم $\mathrm{mod}\, n$ ته پوره کړئ:

$$\{s_1, \ldots, s_{\varphi(n)}, s_{\varphi(n)+1}, \ldots, s_n\}. \quad (6.7)$$

د 4.3.8 پسي

$$R = \{nr_i + ms_j \mid i = 1, \ldots, m, j = 1, \ldots, n\} \quad (6.8)$$

يو پوره پاتي سيستم $\mathrm{mod}\, m \cdot n$ دی، په ځانګړي توګه ټول ګڼونه يا عددونه له R يعني هم له T ټول عددونه ، انکونګروانځ $\mathrm{mod}\, mn$ دي.

و ښايي:

که $a \in R$ او $\mathrm{ggT}(a, mn) = 1$ وي، نو $a \in T$ باور لري.

د $a \in R$ له امله $a = nr_i + ms_j$ باور لري د ځنو $1 \le i \le m, 1 \le j \le n$ لپاره. باور لري: $\text{ggT}(r_i, m) = 1, \text{ggT}(s_j, n) = 1$ ، ځکه چې:

نیسو، چې $\text{ggT}(r_i, m) \neq 1$ ، نو یو لومړنی ګڼ یا عدد p شتونلري د لاندې سره

$$\left.\begin{array}{l} p \mid r_i, \\ p \mid m \end{array}\right\} \Rightarrow \left\{\begin{array}{l} p \mid nr_i, p \mid ms_j \Rightarrow p \mid \underbrace{nr_i + ms_j}_{a=} \\ \\ p \mid mn \end{array}\right\} \Rightarrow \text{ggT}(a, mn) \neq 1 \quad (6.9)$$

-- تضاد (په ورته توګه: $\text{ggT}(s_j, n) = 1 \Rightarrow nr_i + ms_j \in T$ د T تعریف له مخې).

وښایی:

$\text{ggT}(a, mn) = 1$. که $a \in T$ وي، نو باور لري:

د $a \in T \subseteq R$ له امله باور لري:

$$a = nr_i + ms_j \ (1 \le i \le \varphi(m), 1 \le j \le \varphi(n)); \quad (6.10)$$

نیسو، چې $\text{ggT}(a, mn) \neq 1$ ، نویو لومړنی ګڼ یا عدد p شتون لري د لاندې سره:

$$p \mid a = nr_i + ms_j \wedge p \mid mn. \quad (6.11)$$

له دې سره لاس ته راځي $p \mid m$ یا $p \mid n$ ،

بې له تولیزو بندیزونو یا محدودیتونو دي $p \mid m$ وي (ورته $p \mid n$). نو $p \mid ms_j$ او $p \mid a$ باور لري، یعني $p \mid nr_i$ ، له دې سره د 3.1.5 له مخې $p \mid n \vee p \mid r_i$ ، باور لري $p \nmid n$ ، ځکه چې پرته له دې $\mathrm{ggT}(m,n) \neq 1$. له دې امله $p \mid r_i$ لاس ته راځي، د $p \mid m$ سره لاس ته راځي $\mathrm{ggT}(r_i,m) \neq 1$ - تضاد، ځکه چې r_i د لومړني پاتې سیستم $\bmod m$ توکی دی.

یعنې: T یو لومړنی پاتې سیستم $\bmod mn$ دی. □

کورولار 6.1.11 : وي دي $m,n \in \mathbb{N}$ د $\mathrm{ggT}(m,n)=1$ سره، نو باور لري:

$$\varphi(mn) = \varphi(m)\varphi(n). \quad (6.12)$$

ښوونه: د 6.1.10 له مخې

$$T = \{nr_i + ms_j \mid i = 1,\ldots,\varphi(m), j = 1,\ldots,\varphi(n)\} \quad (6.13)$$

یو لومړنی پاتې سیستم $\bmod mn$ دی، نو T $\varphi(m)\cdot\varphi(n)$ توکي لري. دا چې هر پاتې سیستم $\varphi(mn)$ همدا اوس $\varphi(mn)$ توکي لري، نو لاس ته راځي:

$$\varphi(m)\cdot\varphi(n) = \varphi(m\cdot n)$$

. □

یادونه6.1.12 : یو تابع $f : \mathbb{N} \to \mathbb{N}$ د لاندې خویونو سره

$$f(mn) = f(m)f(n) \ \forall m,n : \mathrm{ggT}(m,n) = 1 \quad (6.14)$$

ضريبي يا ځليزه تابع ببليږي.

له دې سره د اويلر φ -تابع د يوه ضريبي تابع بېلګه ده(کاپيتل يا برخه11 وګورئ).

پسې راتلنه يا تري لاس ته راوړنه 6.1.13 : وي دې $m \in \mathbb{N}$ او $m = p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k}$ د لومړنيضريب ټوټه ونه، نو باور لري $\mathrm{ggT}(p_i^{\alpha_i}, p_j^{\alpha_j}) = 1$ ، يعنې

$$\varphi(p_i^{\alpha_i} \cdot p_j^{\alpha_j}) = \varphi(p_i^{\alpha_i}) \cdot \varphi(p_j^{\alpha_j}). \quad (6.15)$$

له دې سره د اندکشن له لارې :

$$\varphi(m) = \varphi(p_1^{\alpha_1}) \cdots \varphi(p_k^{\alpha_k}), \quad (6.16)$$

دا په دې معنا، چې د $\varphi(m)$ شمېرنه د $\varphi(p^n)$ په شمېرنه ور اړول کيږي، د لومړني عدد p او $n \in \mathbb{N}$ لپاره.

جمله 6.1.14 : وي دې p يو لومړنی ګڼ يا عدد، $k \in \mathbb{N}$ ، نو باور لري::

$$\varphi(p^k) = p^k - p^{k-1} \qquad (p^0 := 1). \quad (6.17)$$

بنوونه : $R = \{1, 2, \ldots, p^k\}$ دي يو پوره پاتي سيستم $\bmod p^k$ وي. لومړی هغه $a \in R$ پيدا کړی، چې و p^k ته نسبي لومړني نه وي:

$$\text{ggT}(a, p^k) \neq 1$$

$$\Rightarrow$$

$$\exists\, q \in \mathbb{P} : q \mid a, q \mid p^k \overset{3.1.5}{\Rightarrow} q \mid p \Rightarrow q = p \Rightarrow p \mid a, \tag{6.18}$$

$$p \mid a$$

$$\Rightarrow$$

$$\text{ggT}(a, p^k) \geq p > 1 \Rightarrow \text{ggT}(a, p^k) \neq 1. \tag{6.19}$$

$\text{ggT}(a, p^k) \neq 1 \Rightarrow$	
$\exists\, q \in \mathbb{P} : q \mid a, q \mid p^k \overset{3.1.5}{\Rightarrow} q \mid p \Rightarrow q = p \Rightarrow p \mid a,$	(6.18)
$p \mid a \Rightarrow \text{ggT}(a, p^k) \geq p > 1 \Rightarrow \text{ggT}(a, p^k) \neq 1.$	(6.19)

دا په دې معنا، چې $a \in R$ ، کوم چې p^k ته نسبي لومړني نه دي، ټيک هغه دي د $p \mid a$ سره. يعني غوښتوني: ټول $a \in R$ ، $p \mid a$ ، دا په دې معنا، چې $a = p \cdot t \ (t = 1, 2, \ldots)$

.

د $1 \leq a \leq p^k \ (a \in R)$ له امله باور لري $1 \leq pt \leq p^k$ ، يعني $1 \leq t \leq p^{k-1}$ باپد باور ولري.

برعکس هر $t \in \mathbb{N}$ د $1 \leq t \leq p^{k-1}$ سره هم $p \mid pt = a$ پوره کوي. يعني تيک p^{k-1} ګڼونه $a \in R$ شتون لري د $p \mid a$ سره، يعني

$$\mathrm{ggT}(a, p^k) \neq 1$$

$$\Rightarrow \exists p^k - p^{k-1}a \in R : \mathrm{ggT}(a, p^k) = 1$$

. له دي سره د پيژند له مخي هم باور لري: $\varphi(p^k) = p^k - p^{k-1}$. □

کورولار يا وړه جمل6.1.15: وي دي $m \in \mathbb{N}, m = p_1^{\alpha_1} \cdots p_k^{\alpha_k}$ په لومړنيو ضريبونو ټوټه کونه ، نو باور لري:

$$\varphi(m) = \left(p_1^{\alpha_1} - p_1^{\alpha_1 - 1}\right) \cdots \left(p_k^{\alpha_k} - p_k^{\alpha_k - 1}\right) \cdot \quad (6.20)$$

(دا په دي معنا، چې په په پاتېټولګي کړی(رين، حله) $\bmod m$ کي د يونونو يا واحدونو ګڼون يا تعداد شتون لري).

بېلګه :

لومړی :

$$m = 25m = 5^2 \Rightarrow \varphi(25) = 25 - 5 = 20$$

يعني $|\mathbb{Z}_{25}^*| = 20$ ، دا په دي معنا، چې په $\mathbb{Z}_{25}$ کي ټيک 20 يونونه يا واحدونه شتون لري.

دویم:

$$m = 72m = 2^3 3^2 \Rightarrow \varphi(72) = (2^3 - 2^2)(3^2 - 3) = 4 \cdot 6 = 24$$

یعني $|\mathbb{Z}_{72}^*| = 24$ دا په دې معنا، چې په $\mathbb{Z}_{72}$ کې ټیک 24 یونونه یا واحدونه شتون لري.

د اویلر جمله

Der Satz von Euler

لیما6.1.17 : وي دې $G = \{g_1, \ldots, g_n\}$ یو پای ، ابل ګروپ، نو باور لري:

لومړی: د هر $a \in G$ لپاره باور لري $ag_i \neq ag_j \ \forall i \neq j$ ،

دویم : د هر $a \in G : a^n = e$ لپاره باور لري، د کوم سره چې e د $(G, \cdot)$ یوون یا واحد دی، او $n = |G|$ دی.

ثبوونه:

یو ته :

وړاندنیونه $ag_i = ag_j$ د یوه $a \in G, i \neq j$ لپاره، نو د $a^{-1} \in G :$ سره د ضربولو له لارې لاس ته راځي:

$$a^{-1}ag_i = a^{-1}ag_j, \quad (6.21)$$

دا په دې معنا، چې $g_i = g_j$ د $i \neq j$ سره. ــتضاد!

دويم ته:

$e(g_1 \cdots g_n) = g_1 \cdots g_n$ د لومړي ټکی له مخې $ag_i \neq ag_j$ باور لري ، يعنې د $i = 1, \ldots, n$ لپاره ببرته n مختلف توکي لاس ته راځي. له دې سره باور لري

$$g_1 \cdots g_n = (ag_1)(ag_2) \cdots (ag_n) = a^n(g_1 \cdots g_n), \quad (6.22)$$

همداسې

$$e(g_1 \cdots g_n)(g_1 \cdots g_n)^{-1} = a^n(g_1 \cdots g_n)(g_1 \cdots g_n)^{-1}. \quad (6.23)$$

له دې سره ټرلې $e = a^n, n = |G|$ راکوي . □

جمله 6.1.18 : (اويلر[6.1]) وي دې $a, m \in \mathbb{N}, \mathrm{ggT}(a, m) = 1$ ، نو باور لري:

$$a^{\varphi(m)} \equiv 1(m). \quad (6.24)$$

ثبوونه: د $\mathrm{ggT}(a, m) = 1$ له امله باور لري: $\overline{a} \in \mathbb{Z}_m$ لومړنی پاتې تولګی $\mathrm{mod}\, m$ دی، يعنې $\overline{a} \in \mathbb{Z}_m^*$ باور لري . د $|Z_m^*| = \varphi(m)$ له امله د تعريف له مخې، د 6.1.17 له مخې لاس ته راځي:

$$\overline{a}^{\varphi(m)} = \overline{1}, \quad \text{d.h.} \quad \overline{a^{\varphi(m)}} = \overline{1}, \quad (6.25)$$

$a^{\varphi(m)} \equiv 1(m)$ داسي چي باور لري. □

یو ځانګړی غوره حالت او د6.1.18 مشهور غوره حالت غواړو په لاندي کي ځانله تر څېړنې لاندي ونیسو:

کوروار6.1.19 :(کوچنی فرمات) د تولو $a \in \mathbb{Z}, p \in \mathbb{P}$ لپاره باور لري:

$$a^p \equiv a(p). \quad (6.26)$$

ښوونه: دی $\mathrm{ggT}(a,p) = 1$ ، نو د 6.1.18 له مخي باور لري: $a^{\varphi(m)} \equiv 1(p)$ او د $\varphi(p) = p - 1$ له امله لاس ته راځي:

$$a^{p-1} \equiv 1(p), \quad (6.27)$$

نو په ځانګړي توګه $a^p \equiv a(p)$.

که وي $\mathrm{ggT}(a,p) \neq 1$ ، نو باور لري $a = pt, p \mid a \Rightarrow a^p \equiv 0 \equiv a(p)$

..جمله 6.1.20 :) وېلسن [6.2] 1741-1793 (: د یوه پیداېښتي ګڼ یا طبیعي عدد p لپاره باور لري:

p لومړنی عدد دی

$$\Leftrightarrow (p-1)! \equiv -1(p). \quad (6.28)$$

ښوونه:

$(\Rightarrow)$

وي دي $p \in \mathbb{N}$ لومړنی عدد. که وي $p = 2$، نو باور لري:

$$(2-1)! = 1 \equiv -1(2), \quad (6.29)$$

نو غوښتنه ټیک ده.

وي دي $p > 2$، نو د ټولو $a \in \mathbb{N}$ لپاره باور لري د $1 \leq a \leq p-1 : \mathrm{ggT}(a,p) = 1$ سره. د 6.1.19 له مخي د دي a لپاره لاس ته راځي: $a^{p-1} \equiv 1(p)$.

له دي سره ټول عددونه $1 \leq a \leq p-1$ د الجبري کونګورواټ $x^{p-1} \equiv 1(p)$ حلونه دي. د 5.3.13له مخي کونګرواټ $x^{p-1} \equiv 1(p)$ خورازیات $p-1$)= د پولینوم درجه ده (بنکونګروانت حلونه، له دي سره لاس ته راځي : $\bmod p$ $1, 2, \ldots, p-1$ همدا اوس ټول انکونګروانت $\bmod p$ حلونه دي.

پسې الجبري کونګرواټ

$$(x-1)(x-2)\cdots(x-(p-1)) \equiv 0(p)$$

$\bmod p$ انکونګروانت حلونه $1, 2, \ldots, p-1$ لري. د $\mathrm{grad} = p-1$ له ا مله $1, 2, \ldots, p-1$ $\bmod p$ ټیک انکونګروانت حلونه دي) د 5.3.13 سره د

ضریب دی، نو x^{p-1} یو دی، نو د p له لاري پروېشوني نه ده(. د ضربولو وروسته سړی یو د $p-1$ درجې پولینوم د مطلق لړي

$$c_0 = (-1)(-2)\cdots(-(p-1)) = (-1)^{p-1}(p-1)! = (p \quad (6.30)$$

)

سره لاس ته راوړي، ځکه چې $p > 2$، نو ناجوړه یا طاق دی.

له $x^{p-1} \equiv 1(p)$ څخه د دې کونګروانتونو کمون له لاري سړی یو الجبري کونګروانت لاس ته راوړي

$$f(x) \equiv 0(p), \qquad \operatorname{grad} f \leq p-2 \quad (6.31)$$

او مطلق غړی $-1-c_0 = -1-(p-1)!$. دا کونګروانت زیات له زیاته $\operatorname{grad} f \leq p-2 \bmod p$ انکونګروانت حلونه لري، که p نه د f ټول ضریبونه ووېشي (5.3.13) مګر: $1, 2, \ldots, p-1$ p-1 انکونګروانت $\bmod p$ حلونه دي . له دې سره لاس ته راځي: p د f ټول کونګروانتونه وېشي، په ځانګړي توګه $-1-c_0$، دا په دې معنا، چې

$$p \mid -1-c_0 \Rightarrow -1-c_0 \equiv 0(p) \Rightarrow c_0 \equiv -1(p), \quad (6.32)$$

$(p-1)! \equiv -1(p)$ دا په دې معنا، چې.

$(\Leftarrow)$

وي دي $n \in \mathbb{N}$ د $(n-1)! \equiv -1(n)$ سره . نيسو، چې $n \notin \mathbb{P}$. له دې سره يو لومړنی ګڼ p د $p \mid n$ سره او $2 \leq p \leq n-1$ سره شتون لري، له دې سره

$$p \mid (n-1)! \Rightarrow (n-1)! \equiv 0(p). \quad (6.33)$$

د $(n-1)! \equiv -1(n)$ له امله د $p \mid n$ سره لاس ته راځي،چې $(n-1)! \equiv -1(p)$. له دې سره لاس ته راځي

$$0 \equiv (n-1)! \equiv -1(p) \Rightarrow p \mid 0-(-1) = 1 \quad (6.34)$$

--- تضاد) $p > 1, p \in \mathbb{P}$ (□

یادونه 6.1.21 : د ویلسن 6.1.20) 1741-1793 (جملې له امله دا تروسه یواځنۍ څرګنده یا معلوم د لومړنیو ګڼو قضیه انځوروي!

د $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ جوړښت Struktur von $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$

د $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ نظم د اویلر φ -تابع په څخه معلوم دی: $|\mathbb{Z}_m^*| = \varphi(m)$.

د ګروپ تیوري له مخې خورا ځانګړي ګروپونه داسې په نامه ،، څیوکلیکي،، ګروپونه دي:

پیژندنه(تعریف) 6.2.1 : یو پای ګروپ $(G, \cdot)$ څیوکلیکي دی، که

$$G = \{a, a^2, \ldots, a^{|G|} = e\} \tag{6.35}$$

د لږ تر لږه يوه $a \in G$ لپاره باور ولري. يو توکی $a \in G$ د دې خوي سره د $(G, \cdot)$ توليدېدونکی توکی بلل کيږي.

يادونه 6.2.2:

لومړی: د يوه څيوکليکي ګروپ $(G, \cdot)$ هر توکی g کيدی شي د يوه کره يا همغه کلک توکي $a \in G$ د توان په تو ګه وليکل شي: $g = a^n$ د يوه $n \in \mathbb{N}$ لپاره د $1 \leq n \leq |G|$ سره.

دويم : هر څيوکليکي ګروپ $(G, \cdot)$ د ابل ګروپ دی.

($g, h \in G \Rightarrow g = a^m, h = a^n$ د يوه توليدي توکي لپاره

$a \in G \Rightarrow g \cdot h = a^m \cdot a^n = a^{m+n} = a^{n+m} = a^n \cdot a^m = h \cdot g$)

بيلګه 6.2.3:

لومړی: $(\mathbb{Z}_5^*, \cdot)$ څيوکليکي دی:

$$\mathbb{Z}_5^* = \{\overline{1}, \overline{2}, \overline{3}, \overline{4}\}\ (\varphi(5) = 4)\overline{2}^1 = \overline{2}, \overline{2}^2 = \overline{4}, \overline{2}^3 = \overline{3}, \overline{2}^4 = \overline{1} \Rightarrow a = \overline{2}$$

د $(\mathbb{Z}_5^*, \cdot)$ يو توليدي سيستم دی.

$\overline{3}^1 = \overline{3}, \overline{3}^2 = \overline{4}, \overline{3}^3 = \overline{2}, \overline{3}^4 = \overline{1}$ همداسي:

يو $(\mathbb{Z}_5^*, \cdot)$ هم د $a = \overline{3}$ ، نو

توليدي سيستم دی.

دويم : $(\mathbb{Z}_8^*, \cdot)$ څيوکليکي نه دی:

$\mathbb{Z}_8^* = \{\overline{1}, \overline{3}, \overline{5}, \overline{7}\}$ $(\varphi(8) = \varphi(2^3) = 2^3 - 2^2 = 4)\overline{3}^2 = \overline{1}$

دا په دي

$\overline{5}^2 = \overline{1}, \overline{7}^2 = \overline{1}$

معنا،چې $\overline{3}$ توليدي نه دی، همداسي باور لري:

دريم: $(\mathbb{Z}_2^*, \cdot)$ او $(\mathbb{Z}_4^*, \cdot)$ څيوکليکي نه دي

$\mathbb{Z}_2^* = \{\overline{1}\} - trivial; \mathbb{Z}_4^* = \{\overline{1}, \overline{3}\}, \overline{3}$ (

-ساده دی،

$\mathbb{Z}_2^* = \{\overline{1}\} - trivial; \mathbb{Z}_4^* = \{\overline{1}, \overline{3}\}, \overline{3}$

توليدي توکی دی)

اوس نو کوم $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ څيوکليکي دی؟

پيژندنه(تعريف) 6.2.4: يو ټول ګڼ يا –عدد $g \in \mathbb{Z}$ ساده ريښه $\bmod m$ بلل کيږي، که $\overline{g} \in \mathbb{Z}_m^*$ لومړنی پاتې ټولګيګروپ $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ توليد کړي.

بيلګه 6.2.5:

لومړی: 2 يو ساده ريښه $\bmod 5$ دی(پورته بيلګه وکورئ: $\overline{2}$ توليدوي)، $(\mathbb{Z}_5^*, \cdot)$

همداسي: $g = 3$ ساده ريښه $\bmod 5$ دی.

دویم: کومه ساده ریښه $\mod 8$ شتون نه لري (همداسې: $(\mathbb{Z}_8^*, \cdot)$ خیوکلیکي نه دی).

دریم: 1 سادهریښه $\mod 2$ ، 3ساده ریښه $\mod 4$ دی.

یادونه 6.2.6: $g \in \mathbb{Z}$ ساده ریښه $\mod m$ دی، نو بیا هم هر $g' \in \overline{g}$.

د هغه مودول $m \in \mathbb{N}$ تاکنه، د کوم لپاره چې $(\mathbb{Z}_m^*, \cdot)$ خیوکلیکي دی(دا په دې معنا، چې د هغه لپاره چې ساده ریښې $\mod m$ شتون لري) [6.3]:

لیما 6.2.7: وي دي $(G, \cdot)$ یو پای ابل ګروپ او $a \in G$ نو باور لري:

$$a^k = e \quad k \in \mathbb{N} \Leftrightarrow \operatorname{ord} a \mid k. \tag{6.36}$$

له دې سره نظم $\operatorname{ord} a$ خورا کوچنی طبیعي عدد $n \in \mathbb{N}$ دی، چې د هغې لپاره $a^n = e$ بارور لري.

جمله 6.2.8 : وي دي p یو لومړنی عدد، نو $(\mathbb{Z}_p^*, \cdot)$ خیکلیکي یا تل ښېرته راګرځېدونی دی.

(داپه دې معنا، چې زات وخت ساده ریښې $\mod p$ شتون لري، خو شمېرنو ته یې تولیز متود شتون نه الري؟

لیما 6.2.9: وي دي $p > 2$ یو لومړنی عدد ، او $g \in \mathbb{Z}$ یوه ساده ریښه $\mod p$. که $g^{p-1} \not\equiv 1 (p^2)$ وي، نو g هم یوه ساده ریښه $\mod p^\alpha \ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ ده.

جمله 6.2.10: وي دي $p > 2$ لومړنی عدد، نو $(\mathbb{Z}_{p^\alpha}^*, \cdot)\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ څیکلیکي دی($\mathrm{mod}\, p^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$) دا په دي معنا، چپیوه ساده ریښه شتون لري).

ښوونه: له ښووني : که g ساده ریښه $\mathrm{mod}\, p$ وي، نو باور لري:

$$g^{p-1} \not\equiv 1(p^2) \vee (g+p)^{p-1} \not\equiv 1(p^2). \tag{6.37}$$

پام؛ $g+p$ ساده ریښه $\mathrm{mod}\, p$ دی.($\Rightarrow \exists$)له دي لاس ته راځي تل یو g شتون لري لکه په 6.2.9 کي غوښتل شوي). □

بیلګه 6.2.11 : وي دي $p = 5$، د 6.2.3 له مخي $g = 2$ یوه ساده ریښه $\mathrm{mod}\, 5$ دی، د

$$g^{p-1} = 2^4 = 16 \not\equiv 1(25) \tag{6.38}$$

له امله $g = 2$ یوه ساده ریښه $\mathrm{mod}\, 5^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ ده، دا په دي معنا، چې

$$\mathrm{mod}\, 25, 125, 625, \ldots$$

په همدي توګه : $g = 3$ یوه ساده ریښه $\mathrm{mod}\, 5$ ده، د

$$g^{p-1} = 3^{p-1} = 3^4 = 81 \not\equiv 1(25) \tag{6.39}$$

له ا مله 3 هم یوه ساده ریښه $\mathrm{mod}\, 5^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ دی.

جمله 6.2.12: $p > 2$ دي يو لومړنی عدد وي، نو $(\mathbb{Z}_{2p^\alpha}, \cdot)$ څيوکليکي دی $\forall \alpha \in \mathbb{N}$. (دا په دي معنا، چي يوه ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 2p^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ شتون لري).

ښوونه: له ښووني څخه: g دي ناجوړه وي، $g \in \mathbb{Z}$ ، او يوه ساده ريښه $\mathrm{mod}\, p^\alpha$ ، نو g هم يوه ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 2p^\alpha$ ده ($\forall \alpha \in \mathbb{N}$) ، که g جوړه وي، نو $g + p^\alpha$ ناجوړه دی او ساده ريښه $\mathrm{mod}\, p^\alpha$. □

بيلګه 6.2.13: وي دي $p = 5$ ، د 6.2.11 له مخي $g = 3$ يوه ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 5^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ ده او ناجوړه، نو لاس ته راځي: 3 يوه ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 2 \cdot 5^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ ده، دا په دي معنا، چي $\mathrm{mod}\, 10, 50, 250, \ldots$

د 6.2.11 له مخي $g = 2$ هم ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 5^\alpha\ \forall \alpha \in \mathbb{N}$ ده، مګر جوړه، بيا هم $g' = g + p^\alpha = 2 + 5^\alpha$ ناجوړه او ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 5^\alpha$ ده، نو $g' = 2 + 5\alpha$ هم ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 25^\alpha$ ده.

ليما 6.2.14 : د $\alpha \geq 3$ لپاره $(\mathbb{Z}^*_{2^\alpha}, \cdot)$ څيکليکي نه دی. (دا په دي معنا، چي ساده ريښه $\mathrm{mod}\, 2^\alpha$ شتون نه لري د $\alpha \geq 3$ لپاره).

جمله : (ګاوس 1777-1855 ,). $(\mathbb{Z}^*_m, \cdot)$ تيک هلته څيکليکي دی، که $m \in \{2, 4, p^\alpha, 2p^\alpha\}$ د $p > 2, p \in \mathbb{P}$ سره او $\alpha \in \mathbb{N}$ په خوښه وي

(6.40)

نسبت $m = 2^\alpha, \alpha \in \mathbb{N}$ ته نو هم باور لري: $(\mathbb{Z}_{2^\alpha}^*, \cdot)$ ،، نږدي،، ,,fast`` خيکليکي دی:

جمله 6.2.16 : هر $\overline{a} \in \mathbb{Z}_{2^\alpha}^*$ ته يو يواځنی ټاکلی $j \in \{0,1\}$ او $n \in \{1,2,\ldots,2^{\alpha-2}\}$ شته دی د لاندې سر ه.

(6.41)	$\overline{a} = \overline{(-1)^j 5^n}.$

کارونه: کريپتولوژيAnwendung: Kryptologie

د خبررسوني لپاره تل اړيين همداسي غوښتنوړ دی، چې معلومات فقط نيوونکي B او نه بل چا ته ورسيږي. کريپتولوژي د متودونو پوهنه ده، چې د خورا کم يا مينيمال ورزيات معلومات له مخې (د له B لاري ورکړشوی) څوک د $A \to B$ څخه خبر پرانستلی نه شي، چې دا معلومات ونه لري.

بيلګه 6.3.1: (,,Caesar``) الفبې: A,B, ... ,Z, ، $n \in \mathbb{N}$ په خوښه ټاکل شوی، تعريفوو:

A = n-ter Buchstabe, م توری -n

B = (n+1)-ter Buchstabe,) توری م-(n+1)

⋮

Y = (n-2)-ter Buchstabe م توری-,)n-2(

Z = (n-1)-ter Buchstabe. توری م – ( )

له دې سره د ``n=6,, لپاره بریدټکی قلفیږي و FSLWNKK ته وازېدنه ښوونې ده، که $n=6$ معلوم وي.

دا تروسه جوت د خبرونو شفرکونه یا قلفونه متمآنِ متود داسې په نامه تلنلار انځوروي.

فکر یا ا ند

په ټولیزه توګه یو ډېر په راتلونکي وخت کې، ډېرستر، طبیعي یا پیدابښتي ګڼ(عدد) $n \in \mathbb{N}$ په لومړنۍ ګڼونو نه شي ټوټه کیدی، حتی هلته هم نه، که سړی وپوهیږي، چې فقط دوه لومړني ضریبونه یا ځله وونې رامنځ ته کیږي:

$n = p \cdot q \quad (p, q \in \mathbb{P}).$	(6.42)

تلنلار

که A وB به ته یو خبر استول غواړي، نو دوه ډېر ستر ګڼونه p, q ټاکي او یو عدد $e > 1, e \in \mathbb{N}$ ، ، چې($n = p \cdot q$) $\varphi(n)$ ته نسبي لومړني عدد دی، او په (څرګند ډول) n او e معلوم ورکوي. دلته غوره ټکی: که سړی n, e هم وپیژني، د n دواړه لومړني صریبونه (په ټولیزه توګه) p, q نه ټاکل کیږي. دا عددونه p, q باید سړی وپیژني د دې لپاره، چې

$\varphi(n) = \varphi(p)\varphi(q) = (p-1)(q-1)$	(6.43)

وټاکي (باید د خبرونو د وازولو لپاره وشمیرل شي: د یوه کربنیز کونګروانخ $\bmod \varphi(n)$ حل یا اوبیونه).

د یوه خبر د قلفولو یا شفر کولو لپاره $\bmod \varphi(n)$ دا د یوه عدد بڼه (لکه په بینار بڼه) اړوي او پیدابښتي یت طبیعي عدد $w \in \mathbb{N}$ لاس ته راوړي. سړی کړی شي

$w < n = p \cdot q$ لاس ته راوړي، داسي چې خبر په بلوکونو برخو يا سترو توټو د $l < n$ اوږدوالي سره توټه کړي، او دا ځانله يو پهه ګوني دول وليږي. دا قلف شوی لغات w د يوه کوچني بافي c په توګه تعريف دی، کوم چې د $w^e \in \mathbb{N}$ سره د وېشني سره د $n = pq$ له لارې منځ ته راځي، داپه دې معنا، چې $w^e \equiv c(n)$. A اوس $c \in \mathbb{N}$ ورليږي. د دې لپاره چې w وټاکي، له دې امله الجبري کونګروانخ

(6.44)	$x^e \equiv c(n)$

بايد حل شي(w يو حل يا اوبی دی) .

دا چې $n \in \mathbb{N}$ ډېر لوي دی، امکان شتون لري، چې دا فقط په لومړنيو ضريبونو توټه شي، او $x^e \equiv c$ د يوګونو اعادو مودولو پسې حل شي(پېسې د چيني پاتې جمله 5.2.1 وکتل شي) . له دې سره بايد د n دواړه لومړنيضريبونه p, q وټاکل شي.(نتشفر کيدی. دا د p, q لپاره ډېر لوي دی،، ناشونی،،) نو له $n, e, c \in \mathbb{N}$ څخه خبر په ټوليزه توګه نه شي وازيدی يا اشفري کيدی.نت

د $c \in \mathbb{N}$ وازول (د $w \in \mathbb{N}$ تاکلولپاره) کيدی شي په لاندې توګه لاس ته راشي:
د $d \in \mathbb{N}$ $\mathrm{mod}\, \varphi(n)$ يواځنی لاندې کرښيز کونګروانخ زياتيز- يا مثبت حل دی

(6.45)	$ex \equiv 1(\varphi(n)),$

نو باور لري، چې $w^{ed} \equiv w(n) : w \in \mathbb{N}$ خورا کوچنی څلوری یا مربع با قي دی، کوم چې د n له لارې د $w^{ed} \in \mathbb{N}$ په وېش منځ ته راځي.(دا چې $c \equiv w^e$ یعني $w \in \mathbb{N}$ شمیرنه ده د B لپاره ممکن د لویو $w^{ed} \equiv c^d$ نو له دې سره د $n = pq, e, c, d \in \mathbb{N}$ څخه).

بنوونه: د $\mathrm{ggT}(e, \varphi(n)) = 1$ له امله کرښیز کونګروانیځ $ex \equiv 1(\varphi(n))$ د $\mathrm{mod}\, \varphi(n)$ ناګونګروانیځ حل لري: d .

5.1.1 له مخې نیک یو

وښایی:

(6.46)	$w^{ed} \equiv w(n).$

د $\mathrm{ggT}(p, q) = 1$ او $n = pq$ له امله دې فقط وښوول شي، چې

(6.47)	$w^{ed} \equiv w(p) \wedge w^{ed} \equiv w(q)$

باور لري(د (6)4.1.5 له مخې لاس ته راځي، چې $w^{ed} \equiv w(pq)$ ځکه چې $\mathrm{kgV}(p, q) = pq$)

$p \mid w$ دی، نو هم $p \mid w^{ed}$ ،، یعني $p \mid w^{ed} - w$ ، داسې چې $w^{ed} \equiv w(p)$

باور لري. $p \nmid w$ دی : دا چې $ed \equiv 1(\varphi(n))$ (d حل دی) بار لري

$ed = 1 + k \cdot \varphi(n)$	(6.48)

د يوه $k \in \mathbb{N}$ لپاره($e, d, 1, \varphi(n)$ زياتيز يا مثبت دي). دا چې $\mathrm{ggT}(w, p) = 1$ ،
د ،، کوچني فرمات،، 6.1.19له مخې باور لري.

$w^{p-1} \equiv 1(p).$ $w^{\varphi(n)}\ 1(p),$ دا په دې معنا چې	(6.49)

له دې سره لرو:

$w^{ed} = w^{1+k\varphi(n)} = w^{1+k(p-1)(q-1)} =$ $= w(w^{p-1})^{k(q-1)} \equiv w \cdot 1^{k(q-1)} = w(p).$	(6.50)

ورته: $w^{ed} \equiv w(q) \Rightarrow$ غوښتنه. □

يادونه: 6.3.2 : B کړی شي د لاس ته راوړي خبر څخه c د او $d \in \mathbb{N}$ $n = pq$
له لارې پټه خبر w وشميري

بيلګه 6.3.3 (ګڼونه په ربښتيا ډېر واړه دي!)

B غوره ټاکي، يعني $p = 3, q = 23$ $n = 23 \cdot 3 = 69, \varphi(n) = 2 \cdot 22 = 44$
او ټاکي $e > 1 \in \mathbb{N}, e = 3$ (و 44 ته نسبي لومړنی).

B معلومات ورکوي : $n = 69, e = 3$ او له A څخه شفري خبر يا کود يا پټ خبر
$c = 12$ تر لاسه کوي.

حلونه یا اوبیونه یې: $ex \equiv 1(\varphi(n))$ ، دا په دې معنا، چې $3x \equiv 1(44)$ ،

$\mod 44$ یواځنی ټاکلی حل: $d = 15$. له دې سره $c^d \equiv w(n)$ ، دا په دې معنا، چې $12^{15}(69)$.

$$12^{15} : 12^2 \equiv 6(69), 12^4 \equiv 6^2 = 36(69), 12^5 \equiv 36 \cdot 12 \equiv 18(69),$$

$$, 12^{10} \equiv 18^2 = 324 \equiv 48(69), 12^{15} = 12^{10} \cdot 12^5 \equiv 48 \cdot 18 \equiv 36(69)$$

.

نو $w \equiv 12^{15} \equiv 36(n)$ ، دا پټ لغات 36 وو.

۷ ـ د حقیقي اعدادو g ــادیکي ودیزیینه

g-adische Entwicklung reeller Zahlen

تولزه ودیزیینه Allgemeine Entwicklungen

په برخه 1 کې د هر $a \in \mathbb{N}$ لپاره (له دې سره د هر $a \in \mathbb{Z}, a \neq 0$ لپاره) وښوول شو:

که $g \in \mathbb{N}, g \geq 2$ وي ، نو $a_n > 0, 0 \leq a_i \leq g \ (i = 0, \ldots, n-1)$ شتون لري د

$$a = a_n g^n + a_{n-1} g^{n-1} + \cdots + a_1 g + a_0 \qquad (7.1)$$

سره

(د $a \in \mathbb{N}$ g -ادیکي وده).

د صفر سره نابرابرو حقیقي عددونو ته ټولیزونه:

د $\pi = 3,1415\ldots$ لپاره باور لري:

$$\pi = 3 \cdot 10^0 + 1 \cdot 10^{-1} + 4 \cdot 10^{-2} + \cdots = \sum_{i=0}^{\infty} a_i 10^{-i}. \tag{7.2}$$

جمله 7.1.1 : $\alpha > 0$ دي یو حقیقي عددوي او $g \in \mathbb{N}, g \geq 2$. نو $a_i \in \mathbb{N}_0 \ (i = 0, 1, 2, \ldots)$ شتون لري د $0 \leq a_i \leq g \ (i = 1, 2, \ldots)$ سره، داسي چې دي

$$\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}. \tag{7.3}$$

که α ریښتونی یا راشنل نه وي، نو دا انځورونه یواځنئ ده (داسي په نامه g -ادیکي انځورونه).

ښوونه : د یوه داسي انځوروني یواځنوالی:

که $\alpha \in \mathbb{R}^+$ ناراشنل وي، نو $\lceil \alpha \rceil$ د α پسي خوراکوچنی عدد په ګوته کوي.

د ټولیزې ښووني روښانهونه یا تشریح:

$\pi = 3,1415\ldots$ ، تعریف کړئ $a_0 = \lceil \pi \rceil = 3$ ، $\alpha_1 = \pi - \lceil \pi \rceil$ جوړ کړئ او $a_1 = \lceil 10a_1 \rceil = \lceil 1,415\ldots \rceil = 1$ تعریف کړئ،

$\alpha_2 = 10\alpha_1 - [10\alpha_1] = 0,415\ldots$ جوړ کوئ او تعریف کړئ ... ،

$a_2 = [10\alpha_2] = 4$

تولیز : دي $\alpha \in \mathbb{R}^+, g \in \mathbb{N}, g \geq 2$ په خوښه وي. اندوکتیو جوړکړئ:

$$a_1 = \alpha - [\alpha], \ldots, \alpha_{i+1} = g\alpha_i - [g\alpha_i], \tag{7.4}$$

او له دي سره تعریف کړئ

$$a_0 = [\alpha], \ldots, a_i = [g\alpha_i]. \tag{7.5}$$

باور لري: $0 \leq a_i \leq g \ \forall i > 0$ ، ځکه چې

$$0 \leq \alpha_i = g\alpha_{i-1} - [g\alpha_{i-1}] < 1 \overset{g>0}{\Rightarrow} 0 \leq g\alpha_i \leq g \Rightarrow \tag{7.6}$$

$$\Rightarrow 0 \leq [g\alpha_i] = a_i < g. \tag{7.7}$$

باور لري

$$\begin{aligned} \alpha_1 = \alpha - [\alpha] = \alpha - a_0 &\Rightarrow \alpha = a_0 + \alpha_1 \\ \alpha_2 = g\alpha_1 - [g\alpha_1] &\Rightarrow \alpha_2 = g\alpha_1 - a_1 \Rightarrow \alpha_1 = \alpha_2 g^{-1} + \end{aligned}$$

$$\Rightarrow \alpha = a_0 + a_1 g^{-1} + \alpha_2 g^{-1}. \tag{7.8}$$

و بنایی:

$$\alpha = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n} + \alpha_{n+1} g^{-n} \ \forall n \in \mathbb{N}$$

.

$$n = 1 :$$

$$\alpha = a_0 + a_1 g^{-1} + \alpha_2 g^{-1}$$

پورته لور ته واز دی

$$n \to n + 1 :$$

$$\alpha_{n+2} = g\alpha_{n+1} - [g\alpha_{n+1}] = g\alpha_{n+1} - a_{n+1} \Rightarrow \alpha_{n+1} = a_{n+1} g^{-1} + \alpha_{n+2} g^{-1}$$

$$\Rightarrow \alpha = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n} + \alpha_{n+1} g^{-n} = \quad (7.9)$$

$$= a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n} + \left(a_{n+1} g^{-1} + \alpha_{n+2} g^{-1}\right) g^{-n} = \quad (7.10)$$

$$= a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n} + a_{n+1} g^{-(n+1)} + \alpha_{n+2} g^{-(n+1)} \quad (7.11)$$

$$\Rightarrow$$

چې د $n+1$ لپاره هم ټیک دی.

ناپای لړئ تخیرني لاندې نیسو: $\sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}$ د همدا اوس تعریف تعریف شوو a_i سره.

وښایی: دا لړئ د : α په لور ځي یا : α ته کونورکنت کیږي.

$$\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}. \tag{7.12}$$

n - مه توټه – يا پارشل جمعه(زياتون)

$$s_n = \sum_{i=0}^{n} a_i g^{-i} = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n} \tag{7.13}$$

$$s_n = \alpha - \alpha_{n+1} g^{-n} \ \forall n \in \mathbb{N}$$

پوره کوي

د $0 \leq \alpha_{n+1} < 1$ او د $g^{-n} > 0 \ (g > 0)$ له امله باور لري

$$0 \leq a_{n+1} g^{-n} < g^{-n} \ \forall n \in \mathbb{N}; \tag{7.14}$$

له دي سره لرو: $\lim_{n\to\infty} (\alpha_{n+1} g^{-n}) = 0$ دا په دي معنا، چې

$\lim_{n\to\infty} (\alpha - s_n) = 0 \Rightarrow \lim_{n\to\infty} s_n = \alpha$ ، دا په دي معنا، چې $\sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}$ مطلق د

α په لور هڅيږي.

يواځنوالی(يواځيوالی):

شتون لري د $\alpha \notin \mathbb{Q}$ نيسوچې،

$$\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i} = \sum_{i=0}^{\infty} b_i g^{-i}, \tag{7.15}$$

سره، چیرته چې $a_i \neq b_i$ د یوه i لپاره ، وي دې i_0 خورا کوچنی عدد د $a_{i_0} \neq b_{i_0}$ سره. بې له تولیزمحدودیت دې $a_{i_0} > b_{i_0}$ وی.

یعني

(7.16)

$$a_0 = b_0, a_1 = b_1, \ldots, a_{i_0-1} = b_{i_0-1},$$

او لاس ته راځي $\sum_{i=i_0}^{\infty} a_i g^{-i} = \sum_{i=i_0}^{\infty} b_i g^{-i}$ ، له دې سره (د تولیز پولې ته تلنې له املې کیدی شي سره راتول شي)

$$0 = \sum_{i=i_0}^{\infty} (a_i - b_i) g^{-i} = \quad (7.17)$$

$$= \underbrace{(a_{i_0} - b_{i_0})}_{\geq 1} g^{-i_0} + \sum_{i=i_0+1}^{\infty} \underbrace{(a_i - b_i)}_{\leq 1} g^{-i} \geq g^{-i_0} + \sum_{i=i_0+1}^{\infty} (-g + \quad (7.18)$$

$$= g^{-i_0} + (-g+1) \sum_{i=i_0+1}^{\infty} g^{-i} = g^{-i_0} + (-g+1) g^{-i_0+1} \underbrace{\sum_{i=0}^{\infty} g^{-}}_{= \frac{g}{-1+g}} \quad (7.19)$$

$$= g^{-i_0} - (g-1) g^{-i_0-1} \frac{g}{g-1} = g^{-i_0} - g^{-i_0} = 0. \quad 7.20)$$

له دې سره باید په دې تخمین کې هرچیرته برابروالی باور ولري، نو له دې لاس ته راځي:

$$a_{i_0} - b_{i_0} = 1 \wedge a_i - b_i = -(g-1)\ \forall i > i_0, \tag{7.21}$$

دا په دي معنا، چې

$$b_{i_0} = a_{i_0} - 1 \wedge b_i - a_i = g - 1\ \forall i > i_0. \tag{7.22}$$

$a_i = 0$ او $b_i = g - 1\ \forall i > i_0$ باور لري:

نيسو چې $0 < a_i$ ، نو د $b_i \leq g - 1$ سره لاس ته راځي، چې $b_i - a_i < g - 1$ -تضاد!

له دي سره ټول زيتوني يا د جمعي اجزاوي د α په انځورونه کي د $i > i_0$ سره صفر دي، دا په دي معنا،چې

$$\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i} = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_{i_0} g^{-i_0} = a_0 + \frac{a_1}{g} + \cdots + \tag{7.23}$$

تضاد دی! نو: α فقط يوه g -اديکي وده لري.□

يادونه 7.1.2 : دی $g = 10$ (لسميز سيستم)، نو سړی د $\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}$ لپاره ليکي هم

$$a_0, a_1 a_2 \ldots \quad 0 \leq a_i < 10\ \forall i \geq 1. \tag{7.24}$$

کورولار 7.1.3 : $\alpha > 0$ يو راشنل عدد دی، نو α خورا زيات دوه g -اديکي انځورونې ، داسې په نامه

$$\alpha = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i} = \sum_{i=0}^{\infty} b_i g^{-i}, \tag{7.25}$$

د کوم سره چې

1. $a_i = 0 \ \forall i > i_0$ ،
2. $b_{i_0} = a_{i_0} - 1$ او $b_i = g - 1 \ \forall i > i_0$.

کله $\alpha \in \mathbb{Q}^+$ دوه $\mathbf{g}$ –اديکي انځورونه لري؟

پيژند(تعريف) 7.1.4: سړی وايي، $\alpha \in \mathbb{Q}, \alpha = \frac{a}{b}$ يو پای انځورونه لري، که وي

$$\alpha = \frac{a}{b} = \sum_{i=0}^{\infty} a_i g^{-i}, \tag{7.26}$$

$a_i = 0 \ \forall i > i_0 \ \left(\frac{a}{b} = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_{i_0} g^{-i_0}\right)$ د کږم سره چې

کورولار 7.1.5: $\frac{a}{b} \in \mathbb{Q}^+$ ټيک دوه مختلف g - اديکي ودې لري، که $\frac{a}{b}$ يو يواځنئ انځورونه ولري.

ښوونه :

$(\Rightarrow)$

$\alpha = \frac{a}{b}$ دوه انځورونې لري، نو له دوي څخه يو د 7.1.3 له مخې پاي دی.

$(\Leftarrow)$

$$\alpha = \sum_{i=0}^{i_0} a_i g^{-i}$$

وي دي يوه پای انځورونه، نو باور لري

$$\frac{a}{b} = \sum_{i=0}^{i_0-1} a_i g^{-i} + a_{i_0} g^{-i_0} = \sum_{i=0}^{i_0-1} a_i g^{-i} + (a_{i_0} - 1) g^{-i_0} + g^{-i_0} = \quad (7.27)$$

$$= \sum_{i=0}^{i_0-1} a_i g^{-i} + (a_{i_0} - 1) g^{-i_0} + \sum_{i=i_0+1}^{\infty} (g-1) g^{-i}, \quad (7.28)$$

دا چې

$$-g^{-i_0} + \sum_{i=i_0+1}^{\infty} (g-1) g^{-i} = -g^{-i_0} + (g-1) g^{-(i_0+1)} \underbrace{\sum_{i=0}^{\infty} g^{-i}}_{\to \frac{g}{g-1}} = \quad (7.29)$$

$$= -g^{-i_0} + (g-1) g^{-(i_0+1)} \frac{g}{g-1} = \quad (7.30)$$

$$= -g^{-i_0} + g^{-i_0} = 0. \quad (7.31)$$

نو له دي سره يوه 2 -مه g -اديکي انځورونه لري.□

کوم $\alpha \in \mathbb{Q}^+$ یوه پای g –ادیکي انځورونه لري؟

جمله 7.1.6: که $\alpha \in \mathbb{Q}^+, \alpha = \frac{a}{b}$ وي د $a, b \in \mathbb{N}$ او $\mathrm{ggT}(a,b) = 1$ سره، نو α ټیک هلته یوو پای(او له دې سره 2مختلف) g -ادیکي وده لري، که هر د مخرج لومړنئ پروېشوني بنسټ وېشي.

ښوونه:

$(\Rightarrow)$

وي دي

$$\frac{a}{b} = \sum_{i=0}^{n} a_i g^{-i} = a_0 + a_1 g^{-1} + \cdots + a_n g^{-n}, \qquad (7.32)$$

نو باور لري

$$\frac{a g^n}{b} = a_0 g^n + a_1 g^{n-1} + \cdots + a_n \in \mathbb{Z}, \qquad (7.33)$$

